د عمومي جزا حقوق

# (۳)

# جزاګانې او تأميني تدبيرونه

**Punishments and Security Measures**

دويم چاپ

ليندۍ ۱۳۹۹هـ

ترتيبوونکې اداره: د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (آيدلو IDLO)

کابل، افغانستان

وېب پاڼه: www.idlo.int

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانینو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانینو د نوو تعدیلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بیا بیا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی یا ټولیز بدلون د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخیستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

## په نوموړې روزنيزې رسالې کې کارول شوي قوانين:

- اساسي قانون، ۱۳۸۲ هـ کال
- د جزا کود، ۱۳۹٦ هـ کال
- د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ هـ کال

# د مطالبو لړلیک

**سریزه** ............ ۱

**لومړی څپرکی**

**جزاگانې**

**لومړی مبحث: د جزا تعریف، موخې او ځانګړنې:** ............ ٤

لومړی وینا: د جزا تعریف: ............ ٤

دویمه وینا: د جزا موخې: ............ ۷

درېیمه وینا: د جزا ځانګړتیاوې: ............ ۱۰

**دویم مبحث: د جزا ډولونه:** ............ ۱۲

لومړی وینا: اصلي جزاگانې: ............ ۱۲

دویمه وینا: تبعي جزاگانې: ............ ۲۸

دریمه وینا: تکمیلي جزاگانې: ............ ٤٥

**د لومړي څپرکي پایلیزه:** ............ ٦۰

**دویم څپرکی**

**تأمیني تدبیرونه**

**لومړی مبحث: د تأمیني تدبیرونو تعریف، موخې او موارد:** ............ ٦۳

لومړی وینا: د تأمیني تدبیرونو تعریف او موخې: ............ ٦۳

دویمه وینا: د تأمیني تدبیرونو موارد او شرایط یې: ............ ٦٥

دریمه وینا: د تأمیني تدبیرونو له احکامو څخه د سرغړونې جزا: ............ ٦۷

**دویم مبحث: د تأمیني تدبیرونو ډولونه:** ............ ٦۷

لومړي وینا : د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه: ............ ٦۸

دویمه وینا: د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه:.......................................................................۷۲
درېیمه وینا: د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه: .......................................................................۷۵
څلورمه وینا: مالي او اقتصادي تدبیرونه: ......................................................................۷۹
**د دویم څپرکي پایلیزه:** ........................................................................۸۵
**عمومي پایلیزه:** ..............................................................................۸۷
**آخځلیکونه** ..................................................................................۹۰

## سريزه

که جرم پېښ شي، عمومي نظم ګډوډېږي او ټولنه يې هم پر وړاندې غبرګون څرګندوي. دا غبرګون کيدای شي د جزا يا د حبس د بديل او يا تأميني تدبيرونو په بڼه څرګند شي. سربيره پردې، په ډېری هېوادونو کې له ترميمي عدالت څخه ګټه اخيستل کېږي.

په پخوانيو وختونو کې جزاګانې په قانون کې نه اټکل کېدلې او له جرم سره يې تناسب نه درلود، په مجرم سربېره نورو اشخاصو ته هم سرايت کولو او ډېری له مجرم څخه د غچ اخيستلو په موخه تعيين او تطبيق کېدلې.

خو د وخت په تېريدو سره عدالت غوښتونکې بشرې ټولنې قانوني، عادلانه، متناسب، انساني او د مجني عليه، مجرم او ټولنې لپاره ګټوره جزا يې رامنځته کړه. د مجرم اصلاح کول او ټولنې ته د هغه بيرته ستنول، د مجازاتو د خورا مهمو موخو په څېر وګڼل شول. د اعدام جزا محدوده شوه، د حبس جزاګانې په ډېری مواردو کې په نغدي جزاګانو واړول شوې، او تأميني تدبيرونه، د حبس بديلونه او ترميمي عدالت د ځينو عدلي او قضايي نظامونو د پاملرنې وړ وګرځيدل.

په دې ښوونيزه رساله کې، جزاګانې او تأميني تدبيرونه د افغانستان د جزا له کود سره سم په دوو څپرکو کې تر بحث لاندې نيول کېږي.

په لومړي څپرکي کې به د جزا او په دويم څپرکي کې به د تأميني تدبيرونو په اړه بحث وشي.

په دې بحث کې له توصيفي تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده. کوښښ په دې دی تر څو دا روزنيزوه رساله د قاضيانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدينو لپاره عملي جنبه ولري. نو د نوموړې رسالې له اوږدېدو څخه د مخنيوې په موخه له نظري بحثونو او ثانوي بحثونو څخه ډډه شوې ده. فرضي قضيې، مباحثوي پوښتنې، صنفي ګروپي کارونه او انتقادي تفکر او تحليل، هغه موضوعات دي چې د دې روزنيز پروګرام په تطبيق کې په پام کې نيول شوي دي او موخه يې داده چې هر ګډونوال په روزنيز پروګرام کې برخه واخلي. او په ښوونه حاکمه روحيه، ګډون کوونکې محوره وي. خو لازمه نه ده دا ټولې قضيې او پوښتنې

په ټولګي کې تر مناقشې او تحليل لاندې ونيول شي، بلکې روزنکی د ځانګړي کړل شوي وخت په پام کې درلودلو سره د هغو شخه ځيني يې غوره کوي.

# لومړی څپرکی

# جزاگانې

**موخې:**

د دې روزنيزې ناستې په پای کې به ګډونوال د لاندنيو چارو په تر سره کولو و توانېږي:

۱. د مجازاتو او تأميني تدابيرو تر مينځ تفکيک (بيلتون) او د اصلي، تبعي او تکميلي جزاگانو تر مينځ تفکيک.

۲. د نغدي جزاگانو، حبس او اعدام په باره کې د جزا کود د احکامو رعايت.

۳. د غوښتنې پر مهال د تبعي جزاگانو او تکميلي جزاگانو تطبيق او د اصلي جزاگانو پر تطبيق اکتفا (کفايت) نه کول.

٤. د تبعي جزاگانو د ډولونو تشخيص او د هغوي د ځانګړتياوو او احکامو بيان.

٥. د تکميلي مجازاتو د ډولونو لست کول او د هغو د احکامو شرحه.

٦. له حقوقو څخه له محروميت وروسته د اموالو د ادارې په هکله د جزا کود د قواعدو توضيح.

**عنوانونه:**

- د جزا تعريف، موخې او ځانګړتياوې.
- اصلي جزاگانې:
  - نغدي جزا .
  - د حبس جزا.
  - د اعدام جزا.
- تبعي جزاگانې:
  - د تبعي جزاگانو ډولونه.
  - د تبعي جزاگانو ځانګړنې.
- تکميلي جزاگانې:
  - له حقوقو او امتيازاتو څخه محروميت.
  - مصادره او د حکم خپرول.

# لومړی څپرکی

# جزاګانې

په دې څپرکي کې د جزاګانو پورې اړوند مسايل د دوه مبحثونو په ترڅ کی تشريح کېږي؛ په لومړي مبحث کې د جزا تعريف ، موخې او ځانګړنې او په دويم مبحث کې به د جزاګانو ډولونه چې پر اصلي، تبعي او تکميلي جزاګانو ته شاملېږي، تر بحث لاندې ونيول شي.

**د روزونکي لپاره نوټ:**
د دې څپرکي مطالب اوږده دي، روزونکی دې تيوريک او ساده مسايل د ګډون کوونکو مطالعې ته وسپاري، پر هغه تخنيکي مسايلو او مطالبو دې تمرکز وکړي چې ګډونوال د هغو په پوهېدلو او تطبيق کې ستونزه لري.
د دويم څپرکي په نسبت دې لومړي څپرکي ته زيات وخت ورکړل شي، ځکه د دويم څپرکي مطالب لنډ دي.

## لومړی مبحث: د جزا تعريف، موخې او ځانګړنې:

دا مبحث درې ويناوې لري:د جزا تعريف (لومړۍ وينا)، د جزا موخې (دويمه وينا) او د جزا ځانګړتياوې (درېيمه وينا).

### لومړۍ وينا: د جزا تعريف:

په لاندې کرښو کې جزا د افغانستان د جزا کود او د حقوقو د ځينو پوهانو له ليدلوري څخه تعريفېږي:

**لومړۍ فرعه: د جزا تعریف د جزا کود له لیدلوري:**

جزا د ۱۳۹٦ کال د جزا کود په ۱۳۳مه ماده کې داسې تعریف شوې ده: «جزا» له هغې مؤیدې څخه عبارت ده چې په قانون کې د جرمي عملونو لپاره پیشبیني شوې او د محکمې له خوا د مرتکب پر وړاندی د دې قانون د اساساتو په رعایت سره، حکم کېږي.»

د تعریف عناصر:

۱. جزا یوه مؤیده ده.
۲. د جزا نوعیت او مقدار په قانون کې پیشبیني کېږي.
۳. جزا د جرمي اعمالو لپاره پیشبیني کېږي.
٤. جزا یوازې د جرم پر مرتکب تطبیقېږي.
٥. جزا د جرم پر مرتکب یوازې د صلاحیت لرونکې محکمې په واسطه صادریدلای شي. او
٦. د جزا کود اساسات د احکامو په صادرولو کې رعایت کېږي.

دا اساسات د لومړي باب په دویم څپرکي کې له مندرجو اصولو او کلي قواعدو څخه عبارت دي ( له ٥ څخه تر ۱٥ مادی پوری پورې دي).

لکه:

- د قانون په وړاندې د اشخاصو د تساوي د اصل رعایت.
- د جرم او جزا قانونیت د اصل رعایت.
- د جزا د شخصي والي د اصل رعایت.
- د انساني کرامت د اصل رعایت.
- د بیا ځلې محاکمې منع د اصل رعایت.

**نوټ:** په پورتني تعریف کې « د دې قانون د اساساتو په رعایت سره» عبارت نه ښایي د حصر په معنا و انګېرل شي، ځکه د احکامو په صادرولو کی د جزا کود د اساساتو پر رعایت سربېره، د اساسي قانون،

جزايي اجراآتو قانون، د قضائيه قوې تشكيل او واک قانون او د څارنوالۍ د تشكيل او واكونو قانون د اساساتو رعايت هم اړين دی.

**دويمه فرعه : د جزا تعريف د حقوقو د ځينو پوهانو له ليدلوري:**

- جزا له جرم سره متناسب مجازات دی، چې په قانون كې پېشبيني شوې او د قاضي له خوا صادرېږي.[۱]
- جزا يو ډول حقوقي درد،کړاو او عذاب دی چې د محكمې په واسطه پر مجرم تطبيق كېږي. [۲]
- جزا عبارت له هغه هدفمندې ځورونې او درد څخه عبارت دی چې پر محكوم عليه د هغه له حقوقو څخه د يوه حق د سلبولو او يا له هغه څخه پر استفادې د محدوديت د را منځته كولو له لارې واقع كېږي.[۳]

لومړنی تعريف درې اصلونو ته اشاره كوي: د تناسب اصل، د قانونيت اصل او د قضايي كيدو اصل. دويم تعريف د جزا ماهيت ته اشاره كوي او له هغه څخه د درد، کړاو او عذاب په تعبير يادونه كوي او د جزا د قضايي كيدو او پر مجرم د هغې تطبيق ته هم اشاره كوې، دريم تعريف د دويم تعريف په څېر د جزا ماهيت چې هماغه درد او کړاو دی، بيانوي او د دردونو نوعيت مشخصوي چې د محكوم عليه د حقوقو د سلبولو يا محدودولو له لارې، پرې تطبيقېږي.

---

[۱] - محمود نجيب حسنى، شرح قانون العقوبات، القسم العام، ص ۶۶۷.

[۲] - حسين غلامي، مبانى حقوق و عدالت جزايى در افغانستان، ص ۱۰۵

۳- محمود نجيب حسنى شرح قانون العقوبات، القسم العام، ص ۷۷۱

## دويمه وينا: د جزا موخې:

جزا د ماهيت له مخې يوه ناوړه چاره ده، خو د هغه موخو له لحاظه چې د هغو د تحقق په لټه کې ده د ټولنې لپاره يوه په زړه پورې او د مننې وړ چاره ده. د جزا موخې په هغه تحولاتو سره چې د جزا حقوقو په دکتورين او په پايله کې يې په هېوادونو کې په حاکم جزايي سياست کې ، رامينځ ته شوي دي، ډول ډول دي. په اوسني عصر کې د جزا خورا مهمې موخې عبارت دي له:

### ۱. له جرم څخه مخنيوی:

په لومړي قدم کې، د جزا ټاکل په خپل ذات کې له جرم څخه يو ډول له جرم څخه مخينوی دی، ځکه کله چې مجرمين له جرم څخه راولاړې شوې احتمالي ګټې او له جزا څخه را ولاړ شوي اضرار له يو او بل سره پرتله کوي، په اغلب ګومان ضررونه پر ګټو درنېږي او دا کار د دې باعث ګرځي چې د جرم له ارتکاب څخه ځان ساتي. په دويم قدم کې پر مجرم د جزا تطبيق د هغه لپاره درس او د نورو لپاره عبرت دی او دا درس او عبرت په راتلونکي کې د جرم د ارتکاب مانع کېږي.

### ۲. د مجرم اصلاح:

د مجرم اصلاح په اوسني عصر کې د جزا له خورا مهمو موخو څخه ګڼل کېږي، ځکه چې مجرم د ټولنې يو فرد دی، او د بيلابيلو لاملونو پر بنسټ يې جرم ته مخه کړې ده. نو بايد د يو ناروغ په توګه ورته وکتل شي، د همدې موخې د تحقق په خاطر ده، چې په اوسني عصر کې د هېوادونو په جزايي سياست کې، ستر تحولات رامنځته شوي دي. لکه د مخابراتو تخفيف، د حبس بديلونه، د محبسونو په قوانينو د بشر د حقوقو رعايت کول، د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو تنظيم، دا ټول په واقعيت کې د همدې موخې د تأمين په خاطر تنظيم شوي دي.

### ۳. د مجني علیه د روان آرامتیا:

جرم سربېره پر دې چې د ټولنې نظم ګډوډوي، عدالت ته د يو ټولنيز ارزښت په توګه - هم تاوان رسوي او نيغ په نيغه د مجني عليه او د هغه د خپلوانو احساسات او روحيات په جدي ډول زيانمنوي. د مجرم مجازاتو له موخو څخه يوه يې د دې زيان جبرانول دي.

### ٤. په ټولنه کې د نظم اعاده (بېرته راستنول):

که چیرې د ټولنیزو ارزښتونو او نافذه قوانینو نقضول بې له ځوابه پاتې شي، نو سرغړونې به زیاتې شي او په پای کې به په ټولنه کې د بې نظمۍ په خپرېدو تمام شي. په ټولنه کې د نظم شتون، د بشري افرادو له بشري حقوقو څخه دی. امنیت، سوکالي، روغتیا، اقتصادي پراختیا او داسې نور د نظم مرهون دي. نو، د ټولنیزو ارزښتونو د سرغړوونکو پر وړاندې غبرګون د دې سبب کېږي ترڅو خلک د دغو ارزښتونو او واکمنو قوانینو درناوی وکړي.

### ٥. د مجرم مجازات کول او د عدالت تأمین:

هغه اشخاص چې د نورو په فردي او یا ټولنیزو حقوقو تېری کوي، عدالت ژوبلوي او د مجازاتو مستحق او وړ دي. دا ډول اشخاصو ته جزا ورکول د جرم د قربانیانو د آرامتیا لامل ګرځي او په پای کې د غچ اخیستلو حس له منځه وړي. له دې پرته، شونې ده د جرم قربانیان پخپله غچ اخیستلو ته مخه کړي او په پایله کې د ټولنې نظم ډېر ګډوډ شي.

د جزا کود ۱۳۴ – مې مادې د جزا موخې په لاندې ټکیو کې رالنډې کړې دي:

۱. د غیر قانوني عملونو غندل.

۲. د قوانینو د حکمونو رعایتول او د عدالت ټینګښت.

۳. د جرمونو له ارتکاب څخه د محکوم او نورو اشخاصو راګرځول.

٤. د مجرمينو په اصلاح او روزنه کې مرسته او ټولنيزو دندو ته په صادقانه روحيې سره د هغوی د مسئوليت پذيرۍ د حس رواجول.
٥. ټولنې او زيانمن (قرباني) ته د رسيدلو زيانونو جبران.
٦. د جرم ارتکاب په خاطر جزا.
٧. د اتباعو او ټولنې د حقوقو تضمين او رعايت.

دا موخې راښيي چې د افغانستان د جزا کود د جزا د حقوقو په ډګر کې له نويو ليدتوګو څخه استفاده کړې ده، ځکه چې نوموړي قانون د تورن د مجازاتو تر څنګ، د عدالت تأمين او د ټولنې د نظم ټينګښت، د مجرم اصلاح، له جرم څخه د راولاړو شويو تاوانونو جبران او د اتباعو د حقوقو تضمين ته هم پاملرنه کړې ده.

د اسلامي شريعت فقهاوو دجزا د موخې په اړه ويلي دي :« إنّها مَوانِع قَبل الفِعل و زَواجِرُ بَعدَهُ »[1] جزا د جرم د پيښيدو له ارتکاب څخه وړاندې وقايه کوونکی، او زجر ورکوونکی د هغه له ارتکاب څخه وروسته ده. هغوی چې د جرم د ارتکاب په لټه کې دي، له مجازاتو څخه ډار، هغوی د هغه له ارتکاب څخه راګرځوي. او که د جرم مرتکب شي، مجازاتول به يې د مرتکب د زجر او نورو د عبرت سبب شي.

د موخو د ذکر کولو اهميت په عملي ډګر کې دادی چې قاضيان او څارنوالان د مجازاتو په اړه د اختياري صلاحيتونو څخه د استفادې پر مهال پام وکړي تر څو دا اهداف په ښه توګه تحقق ومومي. د بيلګې په توګه: قاضي کولای شي چې د جزا د اقل حد او اکثر حد د ټاکنې، يا د تکميلي جزاګانو يا تأميني تدبيرونو يا له مشروط خلاصون، د تنفيذ د تعليق او د حبس د بديل او نورو د ټاکلو پرمهال نوموړې موخې په پام کې ولري.

[1] - ابن الهمام، عبدالواحد، شرح فتح القدير ۱۱۲/۴

**دریېمه وینا: د جزا ځانګړتیاوې:**

د جزا تطبیق ځانګړې ځانګړتیاوې لري چې د تطبیق پرمهال یې باید رعایت شي. دغه ځانګړتیاوې په لاندې مواردو کې رالنډېږي:

١- جزا باید قانوني وي: لکه څرنګه چې مو وویل: «جزا هغه مؤیده ده چې په قانون کې د جرمي عملونو لپاره پېشبیني شوې ده». نوموړي تعریف ته په کتو، قاضي نه شي کولای په بله جزا پرته له هغې چې په قانون کې پېشبیني شوې ده، حکم وکړي. که څه هم دده په ګومان، عدالت ته خورا نږدې دي. د جزا کود د ٧مې مادې ٢ فقرې هم په دې شرط ټینګار کړی دی او دارنګه تصریح کوي: «هیڅ جزا تطبیق کیدای نه شي، خو دا چې په دې قانون کې تصریح شوې وي.

٢- جزا باید شخصي وي: دا شرط، د عدالت له کلي، شرعي او قانوني اصولو څخه یو اصل دی. د دې اصل پر بنسټ مجازات باید له مجرم شخص څخه بل شخص ته سرایت ونه کړي. د جزا کود ٩مه ماده د « جرم او جزا شخصي والي» تر عنوان لاندې داسې وایي: «جرم شخصي عمل دی او پر هغه مرتبه جزا بل شخص ته سرایت نه کوي.»

٣- جزا باید فردي وي: د جزا فردي والی په دې معنا دی چې قاضي له هغو پراخو اختیاراتو چې قانون ورته د جزا د اقل او اکثر حد په ټاکلو کې ورکړې ده، څخه په استفادې باید د د جرم او مجرم شرایط او اوضاع او احوال په پام کې ونیسي او هر هغه مجرم په جزا محکوم کړي چې د هغه له حالت سره وړ وي.

٤- جزا باید متساوي وي: په دې معنا چې هغه اشخاص چې په یو شان سرایطو کې قرار لري، په یو شان تطبیق شي او په دې برخه کې دې د جنسیت، رنګ، ټولنیز وضعیت، اقتصادي وضعیت، مذهب او نورو په خاطر هیڅ ډول تبعیض صورت ونه مومي. دا موضوع د جزا کود په ٦مه ماده کې «د قانون په وړاندې د اشخاصو تساوي» تر عنوان لاندې په دې صراحت سره بیان شوې ده: «مظنون، تورن (متهم) او محکوم د ملیتي، نژادي، ژبني، قبیله یي، دیني یا مذهبي، سیاسي

عقیدې، جنس، تحصیل، شغل، کسب، شتمني، ټولنیز موقف، د استوګنې او میشتیدو د ځای د تعلقاتو له په پام کې نیولو پرته د قانون په وړاندې له بشپړې تساوي څخه برخمن دي».

۵- جزا د انساني کرامت مخالفه نه وي: د جزا کود ۱۳۵- مې مادې په دې شرط ټینګار کړی او دارنګه تصریح کوي: «د انساني کرامت مخالفې، تحقیروونکې او توهینونکې جزا ټاکل او تطبیق جواز نه لري».

**(۱) لومړی فعالیت**

**د جندر بحث:**

ګډونوال دې د دې موضوع په هکله بحث وکړي چې آی په افغانستان کې د جزا په تعیین او تطبیق کې تبعیض صورت موندلی دی یا نه؟ او که چېرې یې صورت موندلی دی، نو د حل لاره یې کومه ده؟

**(۲) دویم فعالیت**

**ګروپي کار:**

ګډونوال دې په ګروپونو وویشل شي ځینو ګروپونو ته دې د اساسي قانون نسخه، او ځینو نورو ته د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه او یو شمېر نورو ته دې د مدني او سیاسي حقوقو بین المللي میثاق نسخه ورکړل شي. هر ګروپ دې د لسو دقیقو په ترځ کې له اړوند متونو څخه پر جزا واکمن اصول بیرون نویس کړي. د ګروپونو کار دې یو له بل سره پرتله شي او تر مباحثې لاندې دې ونیول شي.

په هغه صورت کې چې کومه نیمګړتیا شتون ولري، ښوونکی دې یې اصلاح کړي.

**(۳)درېیم فعالیت**

**د ارزونې پوښتنې:**

۱- د جزا تعریف د جزا کود د ۱۳۳ - مې مادې د متن له مخې ولولئ، او د تعریف عناصر استخراج کړئ؟

۲- د جزا موخې د جزا کود د ۱۳۴- مې مادې د متن له مخې ولولئ، او ووایاست چې د قانون په متن کې د جزا د موخو تصریح څه اهمیت لري؟

۳- د جزا ځانګړنې په لنډيز سره توضیح کړئ؟

## دويم مبحث: د جزا ډولونه:

د ۱۳۹٦ کال د جزا کود، جزاګانې په درې ډولونو وېشلي دي: اصلي جزاګانې ( ۱۳۷ - ۱۷۰ مادې)، تبعي جزا ګانې (۱۷۱ - ۱۷۷ مادې) او تکمیلي جزا ګانې (۱۷۸ - ۱۸۱ مادې) چې هره ډول په ځانګړې توګه تر بحث لاندې نیسو.

## لومړۍ وينا: اصلي جزاګانې:

تر دې وينا لاندې اصلي جزا تعریف او ډولونه يې تشريح کېږي:

**لومړۍ فرعه: د اصلي جزا تعریف:**

د جزاء کود ۱۳۷مې مادې اصلي جزا داسې تعریف کړې ده: « اصلي جزا، هغه مجازات دي چې په دې قانون کې دجرم د ارتکاب لپاره پېشبيني شوي وي او د نورو جزاګانو د بشپړتيا يا تبعيت لپاره ټاکل شوې نه وي».

د پورته یاد شوي تعریف پر بنسټ، ليدل کېږي چې اصلي جزا دوه عمده ځانګړنې لري.

۱. قانونیت: يعنې په قانون کې پېشبيني شوې وي.

۲. اصليت: يعنې د نورو جزاگانو تابع نه وي او نه د هغو د بشپړتيا لپاره پېشبيني شوې وي، بلکې ذاتاً د مجرمانه چال چلندونو لپاره د جزا په توگه ، پيش بيني شوي وي.

اصلي جزاگانې بايد د جزا کُلي ځانگړتياوې هم ولري، لکه شخصي والی، له انساني کرامت سره اختلاف نه درلودل او داسې نور.

**(۴) څلورم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

داسې کوم معيار شتون لري چې د هغه پر بنسټ د انساني کرامت خلاف جزا د انساني کرامف له موافقې جزا سره توپير شي؟

**دويمه فرعه: د اصلي جزاگانو ډولونه:**

د جزا کود په ۱۳۸مه ماده کې اصلي جزاگانې په لاندې درې ډولونو وېشل شوې دي:

۱. نغدي جزا.

۲. حبس.

۳. اعدام.

ليدل کېږي چې د جزا کود، د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون برعکس، د جزاگانو په ترتيب کې له خفيف څخه شديد او لازيات شديد په لورې انتقال کړی دی او دا ميتود د قانون تطبيقوونکو ته پيغام ورکوي چې د جزا د تطبيق پرمهال دې د تخفيف په فکر کې وي، نه د تشديد.

اصلي جزاګانې په دوه ډوله دي: مالي او بدني. مالي جزا له نغدي جزا څخه عبارت ده او په بدني جزا کې د حبس جزا او د اعدام جزا شاملې دي. له دې جزاګانو څخه هره يوه يې په لاندې ډول تر بحث لاندې نيسو:

**لومړی جزء: نغدي جزا:**

لومړی نغدي جزا تعريفوو، بيا به د پيسو په ډول او اقل حد او اکثر حد بحث وکړو:

**الف - د نغدي جزا تعريف:**

د جزا کود ۱۳۹ مې مادې نغدي جزا داسې تعريف کړې ده:

«نغدي جزا د دولت خزانې ته د محکوم بها د مبلغ په ورکولو د محکوم عليه له مکلفولو څخه عبارت دی». نغدي جزا مالي جنبه لري او د حبس د جزاګانو او اعدام په نسبت چې بدني جزا لري، خفيفه انګيرل کېږي. ځکه ځای (محل) يې مال دی نه ځان او آزادي.د نغدي جزا ټاکنه د قباحت په جرم او جنحې په جرم کې صورت مومي او د جزا کود د ۱۴۳ مې مادې د حکم مطابق « په جنايت کې د نغدي جزا ټاکل جواز نه لري، خو دا چې دغه قانون صراحتاً پر هغه حکم کړی وي». له استثناء څخه مراد هغه حالتونه دي چې د جنايت په جرم مرتکب حکمي شخص لپاره نغدي جزا پېشبيني کېږي او يا هغه موارد چې حقيقي شخص د حبس جزا سربېره په نغدي جزا هم محکومېږي لکه د رشوت جرم. که چېرې د رشوت اندازه له سلو زرو افغانيو څخه زياته وي، د ۳۷۱مې مادې (۵) او (٦) فقرو ته په پام سره د جنايت جرم ګڼل کېږي او د جرم مرتکب د حبس د جزا سربېره د رشوت د وجې په معادل نغدي جزا هم محکومېږي (د جزا کود له ۳۸۵مې مادې سره سم).

| |
|---|
| **پوښتنه:** آيا د جزا کود په ۱۳۹ مه ماده کې د نغدي جزا تعريف، ماهوي تعريف دی او يا که شکلي؟ او آيا کولای شئ په بل ډول نغدي جزا تعريف کړئ؟ |

**ب – د نغدي جزا د پيسو نوعيت او مقدار يې:**

د جزا کود د ۱۴۰ مې مادې له (۱) فقرې سره سم، «نغدي جزا په افغاني پيسو ټاکل کېږي».

د نغدي جزا د مقدار بيان په لاندې ډول دی:

- د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې د نغدي جزا اقل حد چې د (۵۰) افغانۍ ټاکل شوی ؤ د جزا کود د ۱۴۰ مې مادې د دويمې فقرې مطابق په (۵۰۰۰) پنځه زره افغانيو تعديل او دا رنګه تصريح شويده :« هغه نغدي جزا چې د محکمې په حکم ټاکل کېږي، له پنځو زور (۵۰۰۰) افغانيو څخه لږ نه وي».

نوټ: «د محکمې په حکم ټاکل کېږي» قيد د تأمل وړ دی، ځکه دا قيد په ناسمه راښيي چې نغدي جزاګانې په دوه ډوله دي: يوه چې د محکمې په حکم ټاکل کېږي او بله چې د محکمې حکم ته اړتيا نه لري. هغه څه چې د محکمې په حکم ټاکل کېږي، بايد له پنځه زره افغانيو څخه لږه نه وي. ترديد نشته چې د قانون جوړوونکي موخه دارنګه يو څيز نه دی. په دې خاطر چې محکمه جزا نه ټاکي، بلکې په قانون کې په ټاکل شوې جزا حکم کوي. او د جزا کود په ۱۳۳مه ماده کې د جزا تعريف د همدې قول مصداق دی. « جزا له هغې مؤيدې څخه عبارت ده چې په قانون کې د جرمي عملونو لپاره پېشبيني شوی او د محکمې له خوا د مرتکب په هکله د دې قانون د اساساتو په رعايت سره، حکم کېږي».

- د نغدي جزا د اکثر حد زياتول: د جزا کود د ۱۴۲مې مادې صراحت ته په کتو، محکمه کولای شي په خپل تشخيص يا د څارنوال په غوښتنه د دې قانون په ۱۴۱ مه ماده کې د درج شوو شرايطو او احوالو په رعايت سره د پېشبيني شوې نغدي جزا اکثر حد تر دوه چنده پورې پورته يوسي، په دې شرط چې د نغدي جزا اکثر حد پورته بيول، د محکوم عليه د ټولې شتمنۍ په له منځه وړلو تمام نه شي».

- د نغدي جزا د اندازې تجدید: د جزا کود د ۱۴۰ مې مادې د (۳) مې فقرې سره سم، په دې قانون کې درج د نغدې جزاگانو اندازه، د پیسو د ارزښت نوساناتو ته په کتو سره، له هرو پنځو کلونو وروسته تجدید کېږي. دا حکم د جرم او جزا تناسب د اصل پر بنسټ تنظیم شوی دی، ځکه چې د افغانۍ پیسو ارزښت له یوه وخته تر بل وخته توپیر کوي.

**ب – د اقل حد او اکثر حد ترمنځ د نغدي جزا په ټاکلو کې د محکمې واک:**

عموماً قانون د نغدي جزاگانو لپاره اقل حد او اکثر حد ټاکلی دی. قاضي د اقل حد او اکثر حد ترمنځ د جزا د اندازې په تشخیص کې واک ( اختیار) لري. خو د دې په خاطر چې قاضیان په دې غوراوي کې خپلسری عمل ونه کړي، قانون یو لړ معیارونه د جزا کود په ۱۴۱ مه ماده کې ذکر کړي دي چې د قاضیانو له خوا باید رعایت شي. نوموړې ماده داسې تصریح کېږي: «محکمه په دې قانون کې د پېشبیني شوې نغدي جزا په ټاکلو کې د اقل حد او اکثر حد تر منځ لاندې شرایط او احوال رعایتوي:

١. د جزا د موخو تأمین.
٢. د مرتکب شخصي، ټولنیز او اقتصادي احوال.
٣. د هغه گټې اندازه چې د جرم له ارتکاب څخه تر لاسه شوې ده یا یې د ترلاسه کېدو توقع کیدله.
٤. د هغه حق یا مصلحت ډول چې تر تېري لاندې راغلي دي».

د جزا کود په ۱۴۱ مه ماده کې د درج شویو څلور گونو شرایطو تشریح په لاندې ډول ده:

**۱- د جزا موخه:** د جزا کود په ۱۳۴ مه ماده کې له درج شویو موخو څخه عبارت دی.

**۲- د مرتکب شخصي، ټولنیز او اقتصادي احوال:**

- د مرتکب شخصي احوال: لکه نارینه یا ښځینه، عمر، جسماني توانایي(پیاوړتیا)، سالم یا معیوب والی او داسې نور.
- د مرتکب ټولنیز احوال: لکه متاهل توب یا نه متاهل والی، د کورنۍ د غړیو شمېر چې مرتکب د هغوی د اعاشې مسئول دی، او داسې نور.

- د مرتکب اقتصادي احوال: دا رنگه چې مرتکب څومره املاک، جایداد او منقوله او غير منقوله شتمني لري، یا څومره نغدي پانگه لري، او یا دا چې د هغه د سوداگریزو کارونو حجم څومره دی او داسې نور.

**۳- د هغه گټې اندازه چې د جرم له ارتکاب څخه ترلاسه شوې ده:**
په ځینو حالتونو کې د جرم ارتکاب د هغه د مرتکب لپاره گټه مینځ ته راوړي. دا رانگه چې یو شخص د خپلې ناروغې مور لپاره چې امیدواره (حامله) ده په ښه نیت سره دوا ورکړي او د هغې په اثر جنین سقط شي، مرتکب په نغدي جزا محکومېږي. کومه گټه چې د مرتکب لپاره حاصله شوی ده دا ده چې هغه د خپل پلار یوازینی فرزند دی او اوس هغه د پلار په متروکه کې یوازینی عصبه دی او که د مور جنین یې نه سقطیدلای، د متوفی د عصبې وارثین دوه وروڼه ؤ او پاتې مال د ذوی الفروضو له سهم وروسته د دوو وروڼو تر مینځ وېشل کېده.

**۴- د هغه حق یا مصلحت نوعیت چې تر تېرې لاندې راغلي دي:** د هغه چلوونکي په څېر چې د موټر د تصادم (ټکر) په پایله کې د برېښنا پایه ( ستن ) تخریبوي. مرتکب سره له دې چې وارده شوې خساره جبرانوي، خو دې ته په کتو چې د سیمې اوسېدونکي یوه اونۍ د برېښنا له نعمت څخه محروم شوي دي، محکمه کولای شي مرتکب د پېشبیني شوي نغدي جزا په اکثر حد محکوم کړي.

**(۵) پنځم فعالیت**

**د جنډر بحث:**

دې ته په پام چې ښځې په هېواد کې له اقتصادي پلوه ډېرې په بد وضعیت کې قرار لري. ستاسې له نظره، آیا د متهم شخصیت کولای شي د اقل حد او اکثر حد ترمنځ د نغدي جزا د اندازې په ټاکنه اغېز ولري؟

د نغدي جزا د اداء کولو او څرنگوالي په اړه بايد وويل شي چې د جزا کود د ۱۴۴مې مادې حکم ته په کتو، نوموړې موضوع د جزايي اجراآتو له قانون سره سم صورت نيسي. د جزايي اجراآتو قانون له ۳۴۳ مې مادې څخه تر ۳۴۷ مې مادې پورې د مالي ورکړو د تنفيذ احکام تنظيم کړي دي.
په واحد جرم کې د فاعلينو او يا جرمي گډونوالو د تعدد په صورت کې او په نغدي جزا د هغوی د محکوميت په اړه، د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آيا محکوم بها پيسې په فردي ډول ورکړې او يا تضامني ډول. د جزا کود ٦٨ مې مادې دا موضوع داسې تنظيم کړې ده:
« (۱) که چيرې څو تنه فاعلين او شريکان د واحد جرم د ارتکاب له لحاظه، په واحد حکم سره په نغدي جزا محکوم شي، دغه حکم له هغوی څخه پر هر يوه منفرداً تطبيقېږي.
(۲ ) که چيرې په نغدي جزا حکم د هغې مالي گټې (مفاد) معادل وي چې دجرم د ارتکاب له لارې تر لاسه شوې يا د هغې د استحصال توقع کيدی شوه، حکم پر هغو محکومينو چې په واحد حکم په نغدي جزا محکوم شوي دي، تضامني توگه تطبيقېږي، خو دا چې قانون بل ډول تصريح کړی وي.

**د- په نغدي جزا پورې اړوند نور احکام:**

د نغدي جزا په اړه خاص احکام شتون لري چې بايد پاملرنه ورته وشي، له هغې جملې څخه:

۱. په جنايت کې د نغدي جزا ټاکل جواز نه لري، خو دا چې دغه قانون صراحتاً پر هغه حکم کړی وي (د جزا کود ۱۴۳مه ماده).
۲. طفل په نغدي جزا نه محکومېږي( د جزا کود ۹۹مه ماده)
۳. که چيرې نغدي جزا تر شپيتو زرو افغانيو پورې ټاکل شوې وي، محکمه کولای شي د مرتکب نغدي جزا تر پنځو کلونو پورې تعليق کړي. (د جزا کود ۲۲۲مه ماده)
٤. په نغدي جزا د حکم صادرول د مدني حق د مدعي ( حق العبد مدعي) په ادعا او يا نه ادعا پورې اړه نه لري، بلکې د څارنوال په واسطه د دعوی تحريک، د نغدي جزا د حکم د صادرولو لپاره، کافي گڼل کېږي.

۵. د مجازاتو د انقضا او يا د هغه د سقوط حالتونه ( تقادم، عفو[۱] او ابرأ) د نغدي جزا په اړوند هم رعايت کېږي.[۲]

| |
|---|
| **(٦) شپږم فعاليت** |
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| څارنوال د جزا په کود کې د پېشبيني شوي نغدې جزا په مطالبه کې د اقل حد او اکثر حد ترمنځ کوم شرايط او احوال رعايتوي؟ |

**دويم جزء: د حبس جزا:**

د حبس تعريف: د حبس ډولونه د حبس موده او د حبس د جزا محاسبه په لاندې توګه وړاندې کېږي:

**الف: د حبس تعريف:**

دويم ډول حبس د اصلي جزاګانو له ډولونو څخه دی. حبس د جزا کود په ۱۴۵ مه ماده کې داسې تعريف شوی دی:«حبس له محبسونو څخه په يوه کې چې د دولت له خوا په دې منظور اختصاص شوی دی د محکمې په قطعي حکم د محکوم عليه له زنداي کولو څخه عبارت دی».

**د تعريف شرحه:**

پورتني تعريف ته په پام، هغه اشخاص چې تر عدلي او قضايي تعقيب لاندې قرار لري، کولای شو حبس يې يوازې يوه ډول ته نسبت ورکړو او هغه عباردت دی له(هغه اشخاص چې د محکمې په قطعي حکم زنداني شوي وي).

له همدې کبله، نه شو کولای حبس نورو لاندې اشخاصو ته نسبت ورکړو:

[۱] - عمومي عفوه د جزايي اجراآتو قانون د ۷۹مې مادې لخوا او خصوصي عفوه د جمهوري رياست د مقام د فرمان په واسطه صورت نيسي (د جزايي اجراآتو قانون ۳۴۸مه ماده).

[۲] - شمس الدين، اشرف توفيق، شرح القانون العقوبات،القسم العام ص ۲۷۹ - pdf

- د محکمې په غير قطعي حکم محکوم عليه.
- هغه متهم چې محاکمه يې په جريان کې ده.
- هغه متهم چې تحقيق يې بشپړ خو محاکمه يې پيل شوې نه ده.
- هغه مظنون چې د څارنوال تر تحقيق لاندې قرار لري.
- هغه مظنون چې د پوليس تر کشف لاندې قرار لري.

حبس، اصلي جزا او د آزادۍ سلبوونکی دی. په نورو مواردو کې اشخاصو آزادي سلب نه، بلکې د تأميني تدبيرونو د تر لاس لاندې نيولو له لارې تحديديږي. لکه په ټاکلي ځای کې له ګرځيدو راګرځيدو څخه د محکوم عليه منع کول يا په ټاکلو ځايونو کې له اوسېدو څخه د محکوم عليه منع کول.[1]

د اساسي قانون د ۲۴مې مادې له صراحت سره سم: « آزادي د انسان طبيعي حق دی. دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظيميږي حدود نه لري». حبس او تأميني تدبيرونه چې د آزادي سلبونکي يا محدودونکي دي، د اساسي قانون ۲۴مې مادې سره په تعارض کې نه دي، ځکه چې هر کله که د شخص آزادي عامه مصلحتونه له خطر سره مواجه کړي، د اساسي قانون ۲۴مې مادې له حکم سره سم د سلب يا محدوديت وړ دي.

**ب: د حبس ډولونه:**

د جزا کود ۱۴٦مې مادې د جبس ډولونه داسې بيان کړي دي: "حبس لاندې ډولونه لري:

1 - قصير حبس.
2 - متوسط حبس.
3 - طويل حبس.
4 - ۲ درجه دوام حبس.
5 - ۱ درجه دوام حبس.

[1] - د جزأ د ۱۹۳ يمه او ۱۹۴ يمه ماده

کوم تغيير چې په جزا کود کې د حبس د ډولونو په هکله ملاحظه کېږي، په ۲ درجه دوام حبس او ۱ درجه دوام حبس د دوام حبس ويش (تقسيم) دی.

**ج: د حبس موده:**

د جزا کود ۱۴۷مې مادې د حبس مودې داسې بيان کړي دي: "د حبس موده په لاندې ډول دي:

١. قصير حبس له دريو مياشتو څخه تر يو کال پورې.
٢. متوسط حبس له يو کال څخه زيات تر پنځو کلونو پورې.
٣. طويل حبس له پنځو کلونو څخه زيات تر شپاړسو کلونو پورې.
٤. ۲ درجه دوام حبس له شپاړسو کلونو څخه زيات تر شلو کلونو پورې.
٥. ۱ درجه دوام حبس له شلو کلونو څخه زيات تر دېرشو کلونو پورې."

۱درجه دوام حبس چې موده يې له شلو کلونو څخه زياته تر ديرشو کلونو پورې ده، نوی حبس دی چې د جزا کود په واسطه د افغانستان جزايي نظام ته وارد شوی دی. د اعدام د کمښت له سياست سره سم، نوموړی حبس د دې لپاره زيات شوی چې د اعدام د جزاګانې په هغه بدلې شي.

**د- د حبس د جزا محاسبه:**

د دې پوښتنې په ځواب کې چې: د حبس د جزا محاسبه له کومې ورځې څخه پيلېږي؟ د ۱۳۹۳ هـ ش کال د جزايي اجراآتو قانون د ۳۲۳مې مادې داسې ځواب ورکړی دی: «د نظارت او توقيف ورځې د نيونې د ورځې په شمول د محکوم بها حبس د مجازاتو په مدت کې حسابېږي». په جزا کود کې د حبس د جزا محاسبه تنظيم شوې نه ده. څرنګه چې د جزايي احکامو پورې يې اړه درلوده او د جزايي اجراآتو قانون هغه تنظيم کړې دي، نو جزا په کود کې يې ذکر کولو ته اړتيا نه وه.

**(۷) اووم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

ګډونوال دې په ډله ييزه توګه د لاندنيو توپيرونو لامل پيدا او تحليل کړي:

۱-د ۱۳۹٦ کال په جزا کود کې د قصير حبس موده، درې مياشتې پېشبيني شوې ده[۱]، په داسې حال کې چې نوموړې موده د ۱۳۵۵ کال په جزا قانون کې، ۲۴ ساعته[۲] پېشبيني شوې وه.

۲- په جزا کود کې د ۱ درجه دوام حبس زياتول[۳]، په داسې حال کې چې د ۱۳۵۵ کال په جزا قانون کې داسې يو حبس شتون نه درلود.

**درېيم جزء: د اعدام جزا :**

د اصلي جزاګانو په منځ کې د اعدام جزا د هغوی تر ټولو شديده ګڼل کېږي. د اعدام جزا په اړه لانديني موارد د بحث وړ دي:

**الف – د اعدام تعريف:**

«اعدام د واکمنې محکمې له حکم او د جمهور رئيس له منظورۍ وروسته د قانون پر بنسټ د حقيقي شخص د حيات له ازالې څخه عبارت دي.» د جزا کود ۱٦۹ مه ماده.

په دې تعريف کې د اعدام لپاره دوه شرطونه ذکر شوي دي؛ لومړی: د صلاحيت لرونکې محکمې په واسطه د اعدام په هکله د حکم صادرول. دويم: د جمهور رئيس منظوري.

**ب – د اعدام د تنفيذ څرنګوالی:**

کومه وسيله چې د هغې په واسطه اعدام صورت مومي، په پورته تعريف کې مشخصه شوې نه ده. له همدې کبله، په اعدام د هغه شخص د حيات ازاله چې په اعدام محکوم شوی دی، په هرې وسيلې صورت

[۱] - د جزا کود، ۱۴۷ – مه ماده

[۲] - د ۱۳۸۸ کال د جزا قانون، ۱۰۲ مه ماده

[۳] - د جزا کود، ۱۴٦ مه ماده

نيولای شي، مګر دا چې د انساني کرامت مخالف وي. ځکه چې د اساسي قانون ۲۹مې مادې ته په کتو، « د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.» په هغه صورت کې چې د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع وي، د انساني کرامت مخالفې جزا تطبيق هم منع دی. لکه د سر د ټکولو په وسيله د حيات ازاله، سوځول يا د انساني کرامت نور خلاف وسايل.

خو د جزايي اجراآتو قانون د هغه وسايلو لپاره يو معيار ټاکلی دی چې د هغو په واسطه اعدام صورت مومي ټاکلی دی او عبارت له هغه وسيلې څخه دی چې محکوم عليه ډېر لږ درد احساس کړي. د نوموړي قانون ۳۱۹ مه مادده داسې تصريح کوي: «د اعدام جزا په هغه وسيله چې محکوم عليه ډېر لږ درد احساس کړي، صورت مومي.»[1]

**ج - هغه جرايم چې جزا يې اعدام ده:**

اعدام تر ټولو شديد مجازات ګڼل کېږي او د جناياتو جرايمو لپاره ځانګړې ده چې مجرم په دايمي توګه له ټولنې څخه حذفوي.[2] دا هغه چاره ده چې د جزا له اصلاحي موخې سره سمون نه لري. له همدې کبله په وروستيو پېړيو کې د بشري حقونو د غورځنګونو له لورې په بېلابېلو هېوادونو کې د دې جزا پر ضد مخالفت شدت وموند او لاس ته راوړنې يې هم درلودې، داسې چې تر ۱۹۸٦ کال پورې ۴٦ هېوادونو د اعدام جزا لغوه کړه او تر ۲۰۱۷ کال پورې د اعدام د جزا د لغوه کوونکو هېوادونو شمېره ۱۰٦ هېوادونو ته لوړه شوه. د هغو هېوادو شمېر چې د اعدام جزا يې لغوه کړې نه ده، خو عملاً هغه نه اجراء کوي، ۴۰ هېوادونو ته رسېږي. له همدې کبله ويلای شو چې د نړۍ په (۱۴٦) هېوادونو کې د اعدام جزا نه اجرا

[1] - اعدام د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون په ۹۸ يمه ماده کې «محکوم عليه د دار د زوړندلو څخه د مرګ تر وخته پورې» تعريف شوی ؤ . دا ماده په ۱۳٦۲ کال کې په« محکوم عليه له تير باران څخه د مړينې تر وخته» تعديل شوه . بيا په ۱۳۷۰ کال کې د ۱۳۷۰ کال د کب د ۱۷ - مې نېټې په ۷٦۳ - مه ګڼه رسمي جريده کې بيا ځلي « په دار ځړولو » تعديل شو. بيا دا فرمان د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون د ۳۱۹ - مې مادې پر بنسټ په لاندې ډول تعديل شو: « د اعدام جزا په هغه وسيله چې محکوم عليه ډېر لږ درد احساس کړي، صورت مومي.» او په دې وروستيو کې د جزأ کود هغه دا رنګه تعريف کړ: «اعدام د واکمنې محکمې له حکم او د جمهور رئيس له منظورۍ وروسته د قانون پر بنسټ د حقيقي شخص د حيات له ازالې څخه عبارت دی.»

[2] - شرح قانون العقوبات، القسم العام، حسنی، نجيب ص ۷۹٦، الطبعه الثامنة ۲۰۱٦.

کېږي.[۱] د دې دول فکر بنسټونه د بشري حقونو مسايل تشکيلوي[۲]. د افغانستان په شمول ډېرى هېوادونه چې د هغوی په قوانينو کې د اعدام جزا شتون لري، د هغه په محاکماتي اجراآتو او اجراء باندې يې خورا زيات محدوديتونه وضع کړي دي. له هغې جملې دا چې د اعدام جزا د جمهور رئيس له منظورۍ پرته تطبيق کېدلای نه شي او جمهور رئيسان په ندرت او ډېره کمه اندازه د اعدام د جزا تطبيق منظوروي.

په افغانستان کې د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې د اعدام جزا نږدې (۳۱) مورده جرايمو ته پيشبيني شوې ده. بيا د نورو اختصاصي جزايي قوانينو په تصويب سره په ځانګړي ډول د ۱۳٦٦/۷/۳۰ نېټې ٦۴۹ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو قانون او د ۱۳۸۲ کال په ۸۱۳ ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی له تروريزم «ترهګرۍ» سره د مبارزې قانون او نورو قوانينو کې دې مواردو زياتوالی وموند.

بيا د ۱۳۷۰ کال د کب د ۱۷- مې نېټې په ۷٦۳ – مه ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د اعدام د حکم د تحديد قانون د اعدام موارد په پنځو لاندې مواردو کې حصر کړي دي:

۱. قصدي قتل.
۲. ډله ييزې وژنې.
۳. چاودنه (له قتل سره).
٤. لار شکونه (له قتل سره).
٥. هغه جرمونه چې په پايله کې يې د افغانستان دولت د ځمکې تړوله او يا يوه برخه يې د بهرني دولت تر واکمنۍ لاندې راوستل شي او ځمکنۍ بشپړتيا او خپلواکي يې زيانمنه کړي.

---

۱ - https://www.amnesty.org/en/latest/news/۲۰۱۸/۰٤/death-penalty-facts-and-figures-۲۰۱۷/ د ليدلو نېټه د ۱۳۹۷ د ثور (غويي) ۱۳ = مه ساعت ۲:۰۰ بجې له غرمې وروسته.

۲ - Richard C. Dieter, The Death Penalry and Human Rights: U.S. Death Penalty and International Law, Oxford Round Table U.S. Death Penalty and International Law, P. ۳.

د دې قانون (د اعدام د حکم تحدید قانون) د دویمې مادې له حکم سره سم، نور موارد چې د وخت په ټولو نافذه قوانینو کې د هغو لپاره د اعدام جزا پېشبیني شوې وه، په شل کاله حبس تعدیل شوي دي.
خو د دې قانون له صدور وروسته نور جزایي قوانین نافذ شول چې د اعدام جزا يې د ځينو جرمونو لپاره پېشبيني کړه او د هغو په پايله کې بياځلې د اعدام د جزا مواردو زياتوالی ومونډ، تر دې تر چې د جزا کود يو ځل بيا په ۱۷۰مه ماده کې د اعدام د حکم موارد په پنځو مواردو منحصر کړل چې په لاندې ډول دي:

۱. د نسل وژنې، د بشريت ضد، جنګي، د دولت پر خلاف د تجاوز، ترور او چاودنې، اختطاف او برمته کولو يا قطاع الطريقۍ جرمونو چې د هغو ارتکاب د شخص يا اشخاصو د مړينې سبب شي.
۲. عمد قتل په هغو مواردو کې چې په دې قانون کې پېشبيني شوي دي.
۳. هغه جرمونه چې په پايله کې يې د افغانستان اسلامي جمهوريت دولت ځمکه ټوله د بهرني دولت تر حاکميت لاندې راشي يا د هېواد ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا يا خپلواکۍ ته زيان ورسېږي.
٤. پر ښځه ډله ييز جنسي تېری.
٥. پر نارينه ډله ييز جنسي تېری چې د مجني عليه د مړينې لامل شي.

**انتقادي تفکر او مباحثوي پوښتنه**

د جزا کود د ٦٣٩مې مادې په (۲) فقره کې تصريح شوې ده چې "که چېرې د جنسي تېري په پايله کې مجني عليه ومري، مرتکب په اعدام محکومېږي". د نوموړې مادې په اړه دوه ټکي د بحث وړ دي:

**يو:** ليدل کېږي چې د "مجني عليه" اصطلاح په نوموړي متن کې ټولو انسانانو ته شاملېږي (که نارينه، ښځينه او خنثی مشکل وي)، خو د جزا کود د ۱۷۰مې مادې ٥ جزء په مړينه د تمامېدونکي جنسي تېري په حالت کې د اعدام حکم په هغه حالت پورې منحصر کړی دی چې قرباني سړی وي. اوس دا پوښتنه

مطرح کېږي چې که چېرې قرباني شخص خنثی مشکل وي او د ډله ییز جنسي تېري په پایله کې ومري، آیا د جرم مرتکبین په اعدام محکومېدلای شي؟

**دوه:** دویم توپیر د جنسي تېري د ډله ییز والي او نا ډله ییز والي په برخه کې دی. د جزا کود د ٦۳۹ مې مادې له (۲) فقرې سره سم، په مرینه د تمامېدونکي جنسي تېري د جرم مرتکب ولو که یو شخص هم وي په اعدام محکومېږي، په داسې حال کې چې د ۱۷۰ مې مادې په ۵ جزء کې د ډله ییز والي قید ذکر شوی دی. اوس، که چېرې فردي جنسي تېری وي او د مجني علیه په مرینه تمام شي، آیا د جرم مرتکب په اعدام محکومېدلای شي؟

**(۸) اتم فعالیت**

**د جنډر بحث:**

په ښځه د ډله ییز تېری د جرم جزا، اعدام ده، که ښځه د هغه په پایله کې ومري یا ونه مري. خو پر سړي ډله ییز تېری یوازې هغه وخت د اعدام د حکم وړ ګرځي چې د هغه په پایله کې سړی ومري.
ستاسو له نظره، د دې توپیر علت څه دی؟

**د – په اعدام نه محکومیت:**

د جزا کود د ۹۹مې او ۱۱۴ مې مادې سره سم، ماشوم او هغه شخص چې ۲۰ کاله یې بشپړ کړي نه وي، په اعدام نه محکومېږي.

**هـ - د اعدام په اړه سختګیرانه اجراآت:**

د افغانستان په قوانینو کې د اعدام د جزا په اړه سختګیرانه اجراآت په پام کې نیول شوي دي لکه:

۱. د سترې محکمې د قضایي پلاوي د رأیو اتفاق: د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون د ۳۰۱ مې مادې (۲) فقره په دې اړه داسې صراحت لري: "د شخص په مرګ د حکم په صادرېدو کې د سترې محکمې

د قضايي هيئت د رأيو اتفاق حتمي دی. د رايو نه اتفاق په صورت کې تورن د دوام حبس په اکثر حد محکومېږي." په هغه تغيير سره چې د دوام حبس په ډولونو کې مينځ ته راغلی دی. په دې ځای کې له اکثر حد څخه موخه (۳۰) کلونه دي.

۲. د جمهور رئيس منظوري: د جزايي اجراآتو قانون د ۳۰۱ مې مادې (۱) فقره په دې اړه داسې صراحت لري: « د محکمو قطعي فيصلې واجب التعميل دي، د شخص په مرگ د حکم په استثناء چې د جمهور رئيس له منظورۍ وروسته تعميلېږي.»

د اعدام په حکم د جمهور رئيس د نه موافقې په صورت کې، د جزايي اجراآتو قانون د ۳۵۲ مې مادې د (۱) فقرې پر بنسټ « د اعدام مجازات د دوام حبس د مجازاتو په اکثر حد تعديلېږي».

**(۹) نهم فعاليت**

**د ځنډ بحث:**

د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون د ۳۱۸ مې مادې (۲) فقره داسې حکم کوي: « که په اعدام محکوم شوی شخص اميدواره (حامله) ښځه وي، د حکم تنفيذ د حمل د زېږېدو له نيټې څخه تر دوو کلونو وروسته پورې ځنډول کېږي. په دې صورت کې محکوم عليها د اعدام د مجازاتو تر تطبيق پورې په محبس کې ساتل کېږي.»

د يادونې وړ ده چې د جزا کود د ۲۱۳ مې مادې د (۱) فقرې له (۹) جزء سره سم، د اميدوارۍ او تي وركوونکې ښځې په واسطه د جرم ارتکاب، د مخففه سببونو له جملې څخه گڼل کېږي او اومېدواره يا تي وركوونکې ښځه که چېرې د هغه جرم مرتکبه شي چې د اعدام مستوجب وي، په جزا نه محکومېږي، ځکه چې د جنايت په جرم کې د مخففه احوالو اغېزه دا ده چې جزا يوه درجه ټيټوي؛ د اعدام جزا په ۱ درجه دوام حبس بدلېږي، خو دا چې مشدده حالات موجود وي، ځکه چې د جزا کود له ۲۱۱مې مادې سره سم، مشدده حالتونه د مخففه قانوني عذرونو او قضايي مخففه حالتونو په نسبت د تقدم وړ دي.

**(۱۰) لسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آيا يو شخص چې د لومړي ځل لپاره د داسې يو جرم مرتکب شي چې جزا يې اعدام ده، د اعدام په جزا محکومېدلای شي؟

ګډونوال دې د جزا کود د ۲۱۳مې مادې د (۱) فقرې (۷) جزء ته په پام، چې د لومړي ځل لپاره يې د جرم ارتکاب مخففه حالت بللی دی، د پورته پوښتنې په اړه له يو او بل سره بحث وکړي.

## دويمه وينا: تبعي جزاګانې:

تبعي جزا لکه څرنګه چې له نامه څخه يې بريښي، له اصلي جزاګانو څخه په تبعيت پر محکوم عليه تطبيقېږي او موخه يې د محکوم عليه محروموول دي له هغه حقوقو او امتيازاتو څخه چې شخص ته ټولنيز ځای ځايګی (جايګاه- مقام) ورکوي. محکوم عليه له دې حقوقو څخه د محروميت په پايله کې تر يو څو حدودو خپل موقف (دريځ) او ټولنيز اعتبار له لاسه ورکوي او د هغه د فعاليت او تحرکاتو ساحه محدودېږي.[1]

په نومورې وينا کې تبعي جزاګانې تعريفېږي، د هغوی ځانګړنې بيانېږي او بيا هغه اشخاص چې په تبعي جزا محکومېږي او د تبعي جزاګانو ډولونه تشريح کېږي.

### لومړی فرعه: د تبعي جزا تعريف:

« تبعي جزا هغه مجازات دي چې له اصلي جزا څخه په تبعيت سره پر محکوم عليه د قانون په حکم تطبيقېږي پرته له دې چې د محکمې په حکم کې پر هغې تصريح شوې وي.» د جزا کود ۱۷۱مه ماده .

### دويمه فرعه: د تبعي جزاګانو ځانګړنې:

تبعي جزاګانې د لاندنيو ځانګړنو درلودونکې دي:

[1] - له شرح قانون العقوبات، القسم العام، اشرف توفيق نظام الدين، ص ۲۸۸ څخه په تصرف.

۱. له اصلي جزا څخه په تبعيت تطبيقېږي. په دې معنا چې تبعي جزا په خپلواکه توګه د تطبيق وړ نه ده. د مثال په ډول، په اصلي جزا ( حبس) له محکوميت پرته د جرم مرتکب په ټاکنيزو عهدو کې د نوماندېدلو له حق يا د جزا کود په ۱۷۲مه ماده کې د درج نورو حقوقو څخه نه محرومېږي.
۲. په تبعي جزا محکوميت د قانون په حکم صورت مومي، نه د محکمې په حکم. توضيح يې دا ده چې که چيرې يو شخص د جزا کود د دويم کتاب په لومړي او دويم باب کې درج شويو جرايمو کې له لسو کلونو څخه زيات د حبس يا له لسو کلونو څخه لږ د حبس په جزا محکوم شي، د قانون په حکم په تبعي جزا هم محکوم انګېرل کېږي او جزا کود په ۱۷۲مه ماده کې د درج شويو حقوقو او امتيازاتو څينې محرومېږي. او دې ته اړتيا نه شته چې محکمه په خپل حکم کې په تبعي جزا د ده محکوميت تصريح کړي. دا (تبعي) جزا حتی که چيرې محکمه يې غوښتونکې هم نه وي، تطبيقېږي. (د جزا کود ۱۷۱مې مادې ته دې مراجعه وشي).
۳. تبعي جزاګانې د تجزيې وړ نه دي[1]. په دې معنا چې قاضي نه شي کولای د هغوی له منځه يوه يا دوه يې غوره کړي، يا ځيني يې وکاروي او ځيني نورې يې په پام کی ونه نيسي. بلکې د قانون په حکم ټولې يې په محکوم عليه په کار وړل کېږي (عملي کېږي). ځکه د جزا کود د (۱۷۲) او (۱۷۳) مادو متن په مطلق ډول وايي چې : « له لاندې حقوقو او امتيازونو څخه هم محرومېږي» پرته له دې چې د هغو په غوره کولو او تعداد کې يې قاضي ته کوم اختيار او صلاحيت ورکړی وي.

**درېيمه فرعه: هغه اشخاص چې په تبعي جزا محکومېږي:**

دوه ډله مجرمين پر اصلي جزا د محکوميت سربېره په تبعي جزا هم محکومېږي:
لومړۍ ډله: هغه مجرمين چې له لسو کلونو څخه زيات د حبس په جزا محکومېږي. دوی پخپله د جزا کود ۱۷۲مې مادې کې درج په تبعي جزا هم محکوم انګېرل کېږي. د « محکوم انګېرل کېږي » عبارت په دې خاطر استعمال شو چې محکمه د تبعي جزا د تطبيق غوښتونکې هم نه وي، تبعي جزا تطبيقېږي.
« له لسو کلونو څخه زيات » کلمه افاده کوي چې په لس کلونو محکومين په تبعي جزا محکوم نه انګېرل کېږي او د جزا کود په ۱۷۲مه ماده له درج شويو حقوقو څخه نه محرومېږي.

[1] - رح القانون العقوبات، القسم العام، اشرف توفيق، ص ۲۸۹

<u>دويمه ډله</u>: د جزا کود د دويم کتاب لومړي او دويم باب کې د درج شويو جرمونو محکومين: نومړې ډله حتی که چېرې د محکوميت موده يې له لسو کلونو څخه لږه وي، په تبعي جزا محکوم انګېرل کېږي.
د دويم کتاب د لومړي باب جرمونه عبارت دي د دولت، امنيت او عامه مصئونيت په وړاندې جرمونو څخه ( له ۲۳۷ - ۳۳۱ مادې) او د دويم کتاب د دويم باب جرمونه عبارت دي د بشريت پر خلاف جرمونو څخه د جزا کود (له ۳۳۲ تر ۳۹۷ مادې).
د جزا کود د دويم کتاب په لومړي او دويم باب کې درج شويو جرمونو کې له لسو کلونو څخه زيات د محکوميت شرط نه ايښودل د دې لپاره دي چې په نومړو بابونو کې درج د جنحه جرمونو[1] مرتکبين هم په تبعي جزاګانو کې شاملوي.

**څلورمه فرعه: د تبعي جزاګانو ډولونه:**

تبعي جزاګانې په دوه ډولونو وېشل کېږي:
لومړی ډول: هغه جزاګانې چې د حيثيت[2] د اعادې تر مهاله پر محکوم عليه په کار وړل کېږي.
دويم ډول : هغه جزاګانې چې يوازې د محکوميت دورې پرمهال پر محکوم عليه کارول کېږي.

د لومړي ډول تبعي جزاګانې په ۱۷۲مه ماده او د دويم ډول تبعي جزاګانې په ۱۷۳مه ماده کې تصريح شوې دي.

لاندې دا دوه ډوله جزاګانې تشريح کوو:

**لومړی ډول : هغه جزاګانې چې د حيثيت د اعادې تر مهاله پر محکوم عليه په کار وړل کيږي:**
د جزا کود ۱۷۲مه ماده په دې هکله داسې صراحت لري: « هغه شخص چې له لسو کلونو څخه د زيات حبس په جزا يا د دې قانون د دويم کتاب په لومړي او د دوه يم باب کې په درج شوو جرمونو کې له لسو

[1] - د ټينګار او زياتو مالوماتو په موخه کېدای شي د مثال په توګه د جزأ کود د ۲۴۲، ۲۴۳ ،۲۴۴، ۲۴۵ او ۲۵۹ مادو ته مراجعه او وليدل شي چې په يادو شويو مادو کې درج شويو جرمونو کې متوسط حبس ټاکل شوی دی. خو مرتکبين يې د جزأ کود د ۱۷۲ - يمې مادې پر مؤجب په اصلي جزا محکوميت سربېره، په تبعي جزا هم محکوم انګيرل کيږي، که څه هم مرتکبه جرايم، د جنحي جرم دی.
[2] - د حيثيت د اعادې احکام د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون د څلورم باب په ديارلسم فصل کې له ۳٦۲ - مې څخه تر ۳۷۴ - يمې مادې پورې بيان شويدي، مراجعه دې ورته وشي.

کلونو څخه په لږ حبس محکوم شي، له لاندې حقوقو او امتيازونو څخه هم محروميږي، خو دا چې د قانون يا محکمې په حکم اعاده حيثيت شوی وي:

۱. په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې خدمت.
۲. په ټاکنيزو عهدو کې نوماند کېدل.
۳. له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفاده.
٤. د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هئيت کې غړيتوب.
٥. له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت له خوا د امتياز ترلاسه کول.

په پورته ذکر شوې ۱۷۲ مه ماده کې د درج شوو پنځو جزؤنو تشريح په لاندې ډول ده:
لومړی له (۱ -۳ ) جزؤنو او بيا (۴ او ۵) جزؤنه تشريح کوو:

**د جزا کود په ۱۷۲ مه ماده کې درج د (۱ تر ۳) جزؤنو تشريح:**

له (۱ تر ۳) اجزاوې د (۴ او ۵) اجزاوو په پرتله توپير لري. دا توپير لاندې تشريح کېږي.
د جزا کود په ۱۷۲ مه ماده کې مادې کې (۱ تر ۳) اجزاوو د په کار وړلو لپاره شرط نه ده چې محکوم عليه د جرمونو د يوې ځانګړې نوعې (ډول) د ارتکاب په سبب محکوم شوی وي. بلکې په هر جرم محکومېدل چې جزا يې له لسو کلونو څخه زياته وي او يا د جزا کود دويم کتاب لومړي او دويم باب کې په درج شوي جرايمو محکومېدل کافي دي. په يادو اجزاوو کې درج محروميتونه عبارت دي له:

۱. په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې له خدمت څخه محروميت.
۲. په ټاکنيزو عهدو کې له نوماند کېدلو څخه محروميت.
۳. د نښانونو، مډالونو او افتخاري القابو له استفادې څخه محروميت.

د پورته ذکر شويو محروميتونو شرحه په لاندې ډول ده:

**۱. په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې له خدمت څخه محروميت:**

د دولت له درې ګونو قواوو څخه موخه « مقننه، اجرائیه او قضائیه» قوه ده. او نورو دولتي بنسټونو څخه موخه هغه بنسټونه دي چې د هیڅ یوې درې ګونې دولتي قوې تابع نه دي.

**(۱۱)یوولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**
آیا د یو دولتي بنسټ نوم اخیستلای شئ چې دولتي وي خو د دولت هیڅ کومې درې ګونې قوې پورې اړه ونه لري؟

«په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې له خدمت» څخه موخه یوازې له دې قواوو او بنسټونو سره کارګري اړیکه ده چې نورې قراردادي اړیکې په کې نه شاملېږي. له دې کبله، د تدارکاتو قانون مطابق له دولت سره د قراردادي(پیمانکاري) قراردادونو عقد په دې مورد کې شاملېږي، بلکه د جزا کود د ۱۷۲ مې مادې تر پنځم مورد لاندې ځای لري.
په دولت کې خدمت ټول دولتي مقامونه او بنسټونه رانغاړي. که ډېر لوړ دولتي مقام «جمهوري ریاست» او ډېر ښکته یې «د ملکي خدمتونو اتم بست قراردادي کارکوونکی» وي. پردې بنسټ؛ په تبعي جزا محکوم شخص په دولت کې له خدمت څخه محرومېږي.
په دولت کې له خدمت څخه محرومیت د کار کوونکي عزل هم له ځان سره لري. یعنې که چیرې په تبعي جزا محکوم بالفعل د دولت په خدمت کې وي، عزل کېږي.

**۲. په ټاکنیزو عهدو کې له نوماند کېدلو څخه محرومیت:**
له ټاکنیزو عهدو څخه موخه احتمالاً او د مضیق تفسیر پر بنسټ هغه ټاکنې دي چې په عمومي قدرت کې د ګډون په منظور جوړېږي. لکه د جمهوري ریاست، ولسې جرګې، ولایتي شوراګانو، ولسوالیو شوراګانو، د کلیو شوراګانو، ښاروالیو او ښار والیو د مجلسونو ټاکنې[1]. خو هغه ټاکنې چې د خصوصي

[1] - ټاکنې د ۱۳۹۵ کال د ټاکنو قانون د څلورمې مادې په لومړۍ فقره کې دا رنګه تعریف شویدي: «د آزادو، عمومي، سري،پټو، او مستقیمو ټاکنو له لارې د افغانستان په اساسي قانون کې د درج شویو ټاکنیزو څوکیو (کرسیو) ته د نوماند یا نوماندانو د غوره کولو لپاره عملیاتي بهیر دی.»

بنسټونو د تصدي د نيولو په خاطر کېږي، په دې مورد کې شاملې نه دي. لکه د يو خصوصي شرکت، انجمن، جمعيت، اتحاديې او داسې نورو د رياست د تصدۍ ترلاسه کول.

**(۱۲) دولسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آيا د افغانستان بانک د شورأ او يا د مدافع وکيلانو د خپلواک انجمن ټاکنې د جزا کود د ۱۷۲مې مادې د (۲) جزء په حکم کې شاملې دي يا نه؟

ګډونوال دې په ګروپونو ووېشل شي او پر نوموړې موضوع دې بحث وکړي. هر ګروپ دې خپلې نظرونه په دلايلو سره بيرون نويس کړي او د ګروپ د استازي له لورې دې مطرح کړي. روزونکی دې په پای کې نتيجه واخلي. په هغه صورت کې چې کافي وخت شتون ونه لري، روزونکی کولای شي دا پوښتنه د ټولګي پر وړاندې مطرح کړي. د ګډونوالو نظرونه دې په شفاهي توګه واوري او په پای کې دې نتيجه واخلي.

### ۳. د نښانونو، مډالونو او افتخاري القابو له استفادې څخه محروميت:

دولت هغه اشخاصو ته چې ور خدمتونه سرته رسوي د قانون له مخې ځيني نښانونه، مډالونه او يا افتخاري لقبونه اهداء کوي. نوموړي اشخاص کولای شي د دولتي نښانونو او مډالونو قانون[۱] د ۱۴مې مادې له مخې په جشنونو او رسمي مجلسونو کې ترې استفاده وکړي. همدا رنګه د ياد قانون د ۱۳مې مادې سره سم، نښانونه او دولتي مډالونه د دې قانون له منضمه امتيازاتو څخه چې نغدي پيسې دي، هم برخمن کېږي. له همدې کبله، په تبعي جزا محکوم شخص د دولتي نښانونو، مډالونو او افتخاري لقبونو د استفادې له حق څخه محرومېږي.

[۱] - د ۱۴۲۲ هـ. ق د صفرې د ۸ مې نېټې، ۷۹۷ مه ګڼه رسمې جريده کې خپور شوی د دولتي مډالونو او نښانونو قانون.

**(۱۳) ديارلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا كود د ۱۷۲ مې مادې په (۳) جزء كې د «استفاده» كلمې تفسير څه شى دى؟ صحيح انتخاب وټاكئ.

الف: په تبعي جزا محكوم شخص د دولتي نښانونو، مډالونو او افتخاري لقبونو څخه نه محرومېږي، بلكې د هغو له استفادې څخه محرومېږي.

ب: په تبعي جزا محكوم شخص هم د دولتي نښانونو، مډالونو او افتخاري لقبونو څخه محرومېږي او هم د هغو له استفادې څخه.

ت: په تبعي جزا محكوم شخص هم د دولتي نښانونو، مډالونو او افتخاري لقبونو څخه محرومېږي او هم د هغو له استفادې څخه. حتى كه نښانونه ، مډالونه او افتخاري لقبونه يې له محكوميت څخه وړاندې هم تر لاسه كړي وي، د هغو له استفادې څخه محرومېږي.

**د جزا كود د ۱۷۲مې مادې د (۴ او ۵) جزؤنو تشريح:**

د جزا كود د ۱۷۲مې مادې په (۴-۵) جزؤنو كې د درج شويو حقوقو څخه د محروميت لپاره لازمه ده محكوم عليه د خاص ډول جرايمو مرتكب او د هغو په جزا محكوم شوى وي. دا خاص جرايم د اداري او مالي فساد له جرمونو څخه عبارت دي.

«د اداري او مالي فساد جرايم» دواړه واحد صنف نه دى، بلكې دواړه ځانګړي صنفونه دي چې يو يې « د اداري فساد جرايم» او بل يې «مالي جرايم »دي. په دې دليل چې قانون جوړوونكي د جزا كود په څلورم جزء كې د دواړو صنفونو (هم د اداري فساد جرايمو او هم مالي جرايمو) څخه يادونه كړې ده، خو د نوموړې مادې په پنځم جزء كې يې يوازې مالي جرايم ياد كړي دي. تاسو د جزا كود د ۱۷۲مې مادې ۴ او ۵ جزؤنو ته پام وكړئ.

**(۱۴) څوارلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د اداري فساد د جرمونو او مالي جرمونو ترمنځ توپير څه شی دی؟

**(۱۵) پنځلسم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

د جزا کود د دويم کتاب په څلورم باب کې (له ۳۰۷ – يمې څخه تر ۴٦۰ – مې) مادې پورې لاندې جرايم د اداري او مالي فساد جرمونه بللي دي : (۱ – رشوت، ۲- اختلاس، ۳- له نفوذ څخه ناوړه ګټه اخيستنه، ۴- له دندې يا موقف څخه ناوړه ګټه اخيستنه، ۵- د شتمنی ناقانونه زياتوالی، ٦ – تاکنيز جرمونه، ۷- تزوير، ۸ - اخاذی (باج اخيستنه) ۹ – د افرادو په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظفينو ناوړه رويه، ۱۰ – شکنجه، ۱۱- د دندو او القابو انتحال، ۱۲- د مهر محو يا ماتول، ۱۳ – سرقت (غلا) ۱۴- د رسمي پاڼو او سندونو تلف کول).

لکه څرنګه چې پورته مو وليدل د جزا کود د اداري فساد جرمونه او مالي جرمونه تر يوه عنوان( د اداري او مالي فساد جرمونه) لاندې راوړي دي، په داسې حال کې چې دا دوه اصطلاحات له يو او بل سره توپير لري؛ ځکه چې په مالي جرمونو کې لزوماً د مرتکب قصد د اداري سلامتيا له مينځه وړل نه دي، بلکه هغه يوازې د مال لاس ته راوړلو په لټه کې دی، خو د اداري فساد په جرمونو کې مرتکب د مال د ترلاسه کولو سربېره اداري سلامتيا هم له منځه وړي[1].

**پوښتنه: ستاسې په نظر لاندې کوم غوراوی (انتخاب) صحيح دی؟**

أ. قانون جوړوونکي د جزا کود ۱۷۲مې مادې په ۴ جزء کې د اداري فساد او مالي جرمونو څخه او د دې مادې په ۵ جزء کې يې يوازې له مالي جرمونو څخه يادونه کړې ده. دا معنا راښيي چې قانون

[1] - (۲۱) علی کاظمی، قاضی دادگستری در گفت و گو با مجله قانون، سال دوم، شماره ۴۰۱، چهار شنبه ۲۷ فروردين ۱۳۹۳، تحت عنوان: انواع جرايم اقتصادی در نظام اداری منتشره :PDF۱۳۹۳۰۱۲۷-٤۰۱-۱۳-۵/FILES/PDF/۲۷/۰۱/۹۳HTTP://www.ghanoondaily.ir

جوړوونکي د اداري فساد د جرمونو او مالي جرمونو ترمنځ په تفکيک قايل دی او په ۴ جزء کې يې دوه ډوله جرمونه او په ۵ جزء کې يې يو ډول جرم په آګاهانه توګه ذکر کړی دی.
ب. قانون جوړوونکی د اداري فساد د جرمونو او مالي جرمونو ترمنځ په هيڅ بيلوالي او تفکيک قايل نه دی، بلکې له مالي جرمونو څخه موخه هماغه د اداري فساد جرمونه دي او دا چې ۴ جزء کې له دوه ډوله جرمونو او په ۵ جزء کې له يو ډول جرم څخه يادونه کړې ده، ښايي نوموړي کار د هغه لخوا په ناآګاهانه توګه صورت موندلی وي.
دا احتمال هم شتون لري چې د قانون جوړوونکي نوموړی کار عمدي وي، خو په ۵ جزء کې د هغه منظور د اداري فساد جرمونه دي چې مالي اړخ لري.

د دې انتقادي تفکر او پوښتنې له وړاندې کولو وروسته د جزا کود د ۱۷۲مې مادې (۴ او ۵) جزؤنو تشريح ته راګرځو:

**د ۱۷۲مې مادې ۴ جزء:** د اداري او مالي فساد د جرمونو په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هئيت کې له غړيتوب څخه محروميت:

**د اصطلاحاتو تشريح:**

**مديره هئيت:** «د مديرانو په هغه ډلې چې لږ تر لږه د دوه تنه انتخابي يا انتصابي مديرانو څخه تشکيل شوي وي د محدودې يا نا محدودې مودې د شرکت، مؤسسې يا سازمان د لارښوونې او ادارې مسئوليت په غاړه واخلي اطلاق کېږي.»[1]

**شرکت:** «د دوه يا له دوو څخه د زياتو اشخاصو يووالی دی چې د شراکت د عقد پر بنسټ د ګډو مالکانو په توګه د ګټې د لاس ته راوړلو په منظور جوړ او فعاليت کوي.»[2]

[1] -(و ب ګاه، صادق رئيسي کيا، https://www.raesikia.com

[2] - د تضامني شرکتونو قانون دوهمه ماده، ۱۳۸۵ د سلواغې د لسمې نېټې په ۹۱۳ – مه ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی.

**بانک:** هغه حکمي شخص چې له خلکو څخه د پولي سپارنو یا د بېرته ورکړې وړ نورو وجوهو د لاس ته راوړلو او د خپلې ګټې د ترلاسه کولو لپاره د اعتباراتو د ورکولو په منظور فعالیت کوي او اسلامي بانک او متعارف بانک پکې شامل دي[1].

**مؤسسه:** « غیر دولتي، غیر سیاسي او غیر انتفاعي سازمان دی چې کورنۍ او بهرنۍ مؤسسې رانغاړي.»[2]

نوټ ۱ : د جزا کود د (۱۷۲) مې مادې په ۴ جزء کې «شرکتونه، بانکونه او مؤسسې) په عام ډول ذکر شوي دي. له دې امله دولتي او خصوصي برخې – دواړه – رانغاړي.

نوټ۲ : حکمي شخصیتونه په شرکتونو ، بانکونو او مؤسسو پورې منحصر د مدیره هئیت یا منتخب رهبري هئیت درلودونکي نه دي، بلکې نور نهادونه (بنسټونه)، لکه انجمنونه، اتحادیې او جمعیتونه او نور هم د داسې هیئتونو لرونکي دي.

نو آیا کولای شو انجمنونه، اتحادیې او جمعتونه د جزا کود د ۱۷۲ مې مادې د ۴ جزء په حکم کې را شامل کړو؟ ځواب یې نه دی، نشو کولای هغوی د جزا کود د ۱۷۲ مې مادې په ۴ جزء کې په مندرج حکم کې شامل کړو؛ په دې دلیل چې په عمومي حقوقو کې درې اصله شتون لري « اصل په عمومي حقوقو کې پر منعې دی»، «اصل په عمومي حقوقو کې د قیاس پر نه جواز دی» او «اصل په عمومي حقوقو کې پر مضیق تفسیر دی» او دا اصول د جزا په حقوقو کې د تطبیق وړ دي، ځکه چې د جزا حقوق د عمومي حقوقو یوه څانګه ده. نوموړي اصول دا معنا رسوي چې منصوصي احکام غیر منصوصي احکامو ته سرایت نه کوي. یا په بل عبارت نشو کولای غیر منصوصي احکام پر منصوصي احکامو قیاس کړو. نو پایله دا کېږي چې په تبعي جزاګانو محکوم شخص د انجمنونو، اتحادیو او جمعیتونو په مدېره هئیت کې د غړیتوب له حق څخه نه محرومېږي.

**د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۴ جزء کې درج شوی حکم:**

محکوم علیه د دوه شرطونو په تحقق سره د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۴ جزء کې له درج شویو حقوقو څخه محرومېږي:

[1] - د بانکدارۍ قانون دوهمه ماده، د ۱۳۸۴/۴/۱۵ په ۸۵۷ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی

[2] - د غیر دولتي مؤسسو NGOS قانون پنځمه ماده د ۱۳۸۴/۴/۱۵ نېټې په ۸۵۷ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی.

۱. له لسو کلونو څخه زيات د حبس په جزا محکوم شوی وي.

۲. ارتکابي جرم يې د اداري فساد له جرمونو يا مالي جرمونو څخه وي.

له دې امله د نورو جرمونو په سبب محکوميت د جزا کود د دويم کتاب لومړي او دويم باب کې د درج شويو جرمونو په شمول د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۴ او ۵ جزؤنو کې درج شويو حقوقو څخه د محروميت مستلزم (مؤجب) نه دي.

**د جزا کود د ۱۷۲مې مادې ۵ جزء:**

له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرار داد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتياز د تر لاسه کولو څخه محروميت:

**د اصطلاحاتو تشريح:**

**اداري:** د مضيق تفسير په بنسټ په دې ځای کې له ادارو څخه موخه دولتي ادارې دي چې خپلواک کمېسيونونه، ښاروالۍ، شرکتونه او دولتي تصدۍ، هم په دولتي ادارو کې شامل دي[1].

**تصدی:** دولتي تصدۍ حقوقي شخصيت دی د خپلواک حسابي بيلانس درلودونکې چې د هېواد په بېلابېلونو ډګرونو کې د دولت سل په سلو کې پانګې سره په دې قانون (د دولتي تصديو قانون) او اړونده اساسنامې د احکامو سره سم فعاليت کوي.[2]

**د دولتي شرکت او دولتي تصدۍ تر منځ توپير** دا دی چې: ۱- دولتي تصدي سل په سلو کې د دولت په ملکيت کې وي، ۲- د دولتي تصدۍ کارکوونکي، دولتي مامورين دي او ۳- دولتي تصدۍ د تجارت قانون تابع نه دي[3].

په تېرو وختونو کې د دولتي تصديو شمېر زيات ؤ، خو د نوي اساسي قانون په رڼا کې چې د هغې د لسمې مادې له مخې د بازار اقتصاد سياست منل شوی دی، د تصديو قانون په ۱۳۸۴ کال کې تعديل شو. د هغه

[1] - مراجعه دې وشي : د(۱۳۹۲) د دولت قضاياوو قانون پنځمې مادې ته، (۱۳۹۳) د اطلاعاتو ته د لاسرسۍ قانون دريمې مادې شپږمې فقرې ته او ياد ۱۳۹۵ د تدارکاتو قانون دريمې مادې (۲۱) فقرې ته.

[2] - د ۱۳۷۴ کال د دولتي تصديو قانون دريمه ماده.

[3] - سرور دانش، حقوق اداری افغانستان، ص ۱۷۴.

په بنسټ نه يوازې دا چې د نوي تصديو د تأسيس مخه ونيول شوه، بلکې حکم وشو ترڅو ټولې موجودې تصدۍ چې شمېر يې ٦٥ تصديو ته رسېده، تر ارزونې لاندې ونيول شي، داسې چې برياليو تصديو ته دې په دولتي شرکتونو د شخصيت تغيير ورکړل شي او نامؤفقه تصدۍ دې د څلورو مياشتو په ترڅ کې تصفيه شي. د تصفيې په پروسه (بهير) کې د اداري فساد د شتون په نسبت دا پروسه په ۱۳۸۸ کال کې د جمهور رئيس په حکم ودرېده (متؤقف شوه) تر څو د تصديو د ملکيتونو د خرڅلاو له بابته د دولت د تاواني کېدلو (متضرر) کيدلو له احتمال څخه مخنيوی وشي.

**دولتي مؤسسې:** مشخصه نه ده چې د دولتي مؤسسو څخه موخه کوم دولتي نهادونه (بنسټونه) دي؟ که له هغوی څخه موخه دولت ته تابع نهادونه وي، لکه وزارتونه او د هغوی اړوندې څانګې، يا خپلواک کمېسيونونه چې نيغ په نېغه جمهور رئيس ته رپوټ ورکوي او د وزارتونو تابع نه دي، په دې صورت کې د هغوی ذکر کولو ته اړتيا نه وه. ځکه دولتي ادارې دا ټول نهادونه رانغاړي. په دې دليل چې هغوی خپلواک حقوقي شخصيت نه لري، بلکې ټول د دولت اندامونه ګڼل کېږي.

د دې احتمال شته چې له «دولتي مؤسسو» څخه موخه عامه مؤسسې دي. عامه مؤسسې له هغو نهادونو څخه عبارت دي چې د دولت له بدنې څخه جلا د عمومي خدمتونو د وړاندې کولو او يا په مسلکي او ځانګړې فني ساحه کې د عمومي ګټو د تأمين په موخه د قانون په واسطه تأسيس شوي دي. دا مؤسسې پخپله مشخصه کاري حوزه کې له عمومي قدرت څخه د استفادې د صلاحيت درلودونکي دي او ددوې شتمني د عمومي شتمنيو برخه ګڼل کېږي. خورا مهمې بيلګې يې عبارت دي له: د افغانستان بانک، د سرې مياشتې ټولنه، دولتي شرکتونه لکه د برښنا شرکت، د آريانا افغان هوايي شرکت او داسې نور.

د افغانستان مدني قانون په ۳۳۸ مه ماده کې له هغو څخه د عمومي تأسيساتو په نامه يادونه کړېده « ۱- عام حکمي شخصيت چې د دولت رکنونو، فرعي ادارو د هغې د مربوطو شعبو سره او عمومي تأسيساتو ته شامل دي».

**مختلطې مؤسسې:** له مختلطو مؤسسو څخه موخه هغه شرکتونه دي چې په هغو کې د دولت ونډه له ۲۵٪ څخه زياته ده. ځکه دا نهادونه د تدارکاتو قانون د مقرراتو تابع دي خو که د دولت ونډه له ۲۰٪

څخه لېره وي، د خصوصي حقوقو روابط پرې حکومت کوي نه د تدارکاتو قانون او عمومي حقوقو نورې قاعدې.

**د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۵ جزء کې درج شوی حکم :**

محکوم عليه د ۲ شرطونو په تحقق سره د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۵ جزء کې له درج شويو حقوقو څخه محرومېږي:

۱. له لسو کلونو څخه د زيات حبس په جزا محکوم شوي وي؛ او

۲. ارتکابي جرم يې له مالي جرمونو څخه وي.

له دې امله د نورو جرمونو په سبب محکوميت د جزا کود د دويم کتاب په لومړي او دويم باب کې د درج شوو جرمونو په شمول د جزا کود د ۱۷۲مې مادې په ۵ جزء کې له درج شويو حقوقو څخه د محروميت مستلزم نه دی.

**(۱٦) شپاړلسم فعاليت:**

**فرضي قضيه:**

مېرمن شکريه د مالي جرم د ارتکاب په تور په ۱٦ کلونو حبس محکومه شوې ده. د محکوم بها جزا د تېرولو وروسته او د حيثيت له اعادې وړاندې نوموړې غواړي له ښاروالۍ سره قرارداد منعقد کړي. ستاسو په نظر آيا قانون شکريې ته دا رنګه يو حق ورکړی دی يا نه؟ په مستدله بڼه ځواب ورکړئ.

**دويم ډول: هغه جزاګانې چې يوازې د محکوميت په موده کې د عملي کولو وړ دي:**

د جزا کود ۱۷۳ مې مادې «د نورو تبعي جزاګانو» تر عنوان لاندې له ځينو حقوقو څخه محروميت پېشبيني کړی دی. دا محروميت د لومړي ډول پر خلاف د حيثيت تر اعادې پورې ادامه نه مومي، بلکې د جزا کود د ۱۷۳مې مادې د صريح نص پر بنسټ يوازې « د محکوميت په موده کې» د عملي کولو وړ دی. د جزا کود ۱۷۳مه ماده داسې صراحت لري: « د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې درج شوی شخص د محکوميت په موده کې له لاندې حقوقو او امتيازونو څخه هم محرومېږي:

۱- په معاملو او دعواوو کې وصايت، وکالت او قيموميت.
۲-په عقودو او معاملو کې شهادت.
۳-د مالونو او املاکو مستقيمه اداره د وقف او وصيت په استثناء".

**له حقوقو او امتيازونو څخه د محروميت مهال (وخت):**

که چيرې محکوم عليه د حکم د صادريدو پر مهال د جزا کود په ۱۷۲مه ماده کې د درج شويو حقوقو او امتيازونو له يوه څخه مستفيد وي، د جزا کود د ۱۷۴مې مادې پر بنسټ د حکم له قطعيت وروسته ترې محرومېږي. د يادونې وړ ده چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د ۱۱۳مې مادې د ۲ فقرې پر بنسټ دا محروميت « د حکم د صادرېدو سره يو ځای» عملي کېده، نه د هغه له قطعيت وروسته. توپير په دې کې دی چې د جزا کود پر اساس اوس محکوم عليه کولای شي له محکوميت وروسته د حکم تر قطعيت پورې د جزا کود په ۱۷۳مه ماده کې له درج شويو حقوقو او امتيازونو څخه مستفيد اوسي.

**د مالونو او املاکو له ادارې څخه د محروميت څرنگوالی:**

د محکوم عليه محروميت د هغه د مالونو او املاکو له ادارې او تصرف څخه د سوداگريزو او مدني فعاليتونو له لحاظه احتمالاً زياتې اغيزې او پايلې رامنځ ته کوي او د هغه گټې په خطر کې اچوي. له همدې امله قانون ځيني تدبيرونه پېشبيني کړي دي تر څو د محکوم عليه د گټو گواښونکي ټکرونه راکم کړي. دا تدبيرونه په لاندې ټکيو کې شامل دي:
الف: د محکوم عليه د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره د قيم ټاکل.
ب: د مؤقتې مودې لپاره د محروميت رفع کول.

**الف: د محکوم عليه د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره د قيم ټاکل:**

د جزا کود ۱۷٦مه ماده په دې هکله داسې صراحت لري:
« (۱) محکمه کولای شي د لسو کلونو څخه په زيات حبس د محکوم عليه د غوښتنې پر اساس د هغه د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره قيم وټاکي.

(۲) محکمه قيم د بالمال ضمانت په ورکول مکلفوي او د دې دندې په وړاندې هغه ته مناسب اجرت ټاکي.
(۳) د قيم تصرفات د هغه د ادارې لاندې مالونو په هکله د هغې محکمې د نظارت تابع دي چې قيم يې ټاکلی دی.
(۴) د قيم تر ادارې لاندې مالونه د مجازاتو له تطبيق يا د قيمومیت د مؤعد له تيريدو وروسته بنا پر هر سبب چې وي، نوموړي محکوم عليه ته مستردېږي.
(۵) قيم مکلف دی په تر قيموميت لاندې مالونو پورې اړوند صورت حساب محکوم عليه ته وړاندې کړي».
د پورته ذکر شوې مادې په رڼا کې د قيم د ټاکنې په اړوند څو ټکي د غور وړ دي:
**لومړی:** قيم د محکوم عليه د غوښتنې پر بنسټ ټاکل کېږي. که چيرې هغه يې غوښتنه ونکړي، محکمه له خپلې خوا قيم نه ټاکي. ځکه کله کله محکوم عليه، وکيل لري او دا غوره بولي چې د مالونو اداره دې يې دده د وکيل له لارې صورت ومومي.
**دويم :** د قيم ټاکل د محکمې د اختياري صلاحيتونو له جملې څخه دي. ځکه د جزا کود د ۱۷٦ - يمې مادې لومړې فقرې د «کولای شي» د کلمې څخه استفاده کړې او دا رنګه تعبير يې کړی دی: «محکمه کولای شي لسو کلونو څخه په زيات حبس د محکوم عليه د غوښتنې پر اساس د هغه د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره قيم وټاکي.» او د «کولای شي» کلمه په اختيار دلالت کوي نه په لزوم. له دې کبله د قيم په ټاکلو او نه ټاکلو کې د محکوم عليه ګټو ته اعتبار ورکوي او لازم تصميم نيسي.
**دريم:** هغه شخص د قيم په توګه ټاکل کېدای شي چې د مدنې په قانون ۲۸۹ او ۲۹۰ مادو کې د درج شويو شرايطو لرونکی وي. د مدنې قانون ۳۲۲ مه ماده دا رنګه تصريح کوي: «د دې قانون په (۲۸۹، ۲۹۰) مادو کې درج شوي شرطونه د قيم په باره کې اعتبار لري او همدارنګه د وصي پورې مربوط ټول حکمونه د هغه په باره کې د تطبيق وړ دي.»
**څلورم:** قيم مکلف دی د کار له پيل کولو وړاندې مالي ضمانت ورکړي تر څو د سرغړونې او د تر قيموميت لاندې شخص ګټو ته د تاوان رسولو په صورت کې وارد شوی ضرر د قيم له مال څخه جبران شي. قيم

د قیمومیت د عملي کولو په صورت کې د مناسب مزد( اجورې) مستحق دی. دا اجوره د محکمې په واسطه تعیین او د محکوم علیه له شتمنیو څخه ورته ورکول کېږي.

**پنځم:** قیم د هغه محکمې تر څارنې لاندې چې دی یې ټاکلی دی، د قیمومیت اعمال تر سره کوي او په دې ترڅ کې د خپلو فعالیتونو د صورت حساب رپوټ محکوم علیه ته هم وړاندې کوي. محکمه حق لري دده مضر تصرفات فسخ کړي.

**شپږم:** د قیم په ټاکلو کې صلاحیت لرونکې محکمه او د هغې اجراآت:

د قیم په ټاکلو کې صلاحیت لرونکې محکمه پخوا مدنی محکمه وه. خو د قضایي رویې مطابق اوس د قیم ټاکل او د قیمومیت وثیقې د ترتیبولو اجراآت د وثایقو محکمې له صلاحیت څخه دي.

**(۱۷) اوولسم فعالیت**

**انتقادي فکر:**

د جزا کود د ۱۷٦مې مادې په (۱) فقره کې د قیم د ټاکلو د وړاندیز حق هغه محکوم علیه ته ورکړی دی چې له لسو کلونو څخه په زیات حبس محکوم شوی وي.همدا رنګه د ۱۷۷مې مادې په (۲) فقره کې دا حق هغه محکوم علیه ته هم ورکړل شوی دی چې په اعدام محکوم شوی دی. خو د هغه محکومینو په اړوند چې د جزا کود دویم کتاب د لومړي او دویم باب په جرمونو محکوم شوي دي، کوم څه تصریح کړي نه دي. پوښتنه دلته ده چې د جزا کود د دویم کتاب لومړی او دویم باب په جرمونو محکومینو د مالونو او املاکو د ادارې سرنوشت به څه رنګه شي؟

**ب: د مؤقتې مودې لپاره د محرومیت رفع کول:**

محکوم علیه کله کله ایجاب کوي چې پخپله په خپلو مالونو کې تصرف وکړي. لکه د کور یا تجارتخانې پلورل او یا د قرار داد عقدول او یا نور مهم تصرفات. له دې امله که چېرې محکمه پخپله د محکوم علیه تصرف دده په مالونو او املاکو کې مهم او اړین تشخیص کړي، ده ته موقتاً د تصرف اجازه ورکوي. د محکوم علیه هغه حقوقي تصرفات چې دده لپاره تعهد مینځ ته راوړي، د محکمې له اجازې پورې موقوف دي.

له لسو کلونو څخه په زيات حبس محکومو اشخاصو سربېره په اعدام. محکوم اشخاص هم د جزا کود په ۱۷۲ - يمه ماده کې د يادو شويو حقوقو او امتيازونو څخه هم محرومېږي او محکمه کولای شي د محکوم عليه د غوښتنې پر بنسټ دده د مالونو د ادارې لپاره قيم وټاکي. ياده ماده په دې اړوند داسې صراحت لري:

«(۱) هغه شخص چې د اعدام په جزا محکومېږي، د حکم د تنفيذ تر وخته د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه محرومېږي.

(۲) په اعدام د محکوم شخص حقوقي تصرف د وقف او وصيت په استثنی باطل گڼل کېږي، محکمه کولی شي د هغه د غوښتنې په اساس د مالونو د سرپرستۍ او ادارې لپاره قيم وټاکي.»

**(۱۸) اتلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود د ۱۷۳ مې مادې (۳) بند، «د ۱۷۵ مې مادې (۱) فقره او د ۱۷۷ مې مادې (۲) فقره په ځير سره ولولئ او ووایاست چې آيا د "مالونو ادارې" څخه د محروميت مفهوم د مالونو له حفاظت او ساتنې څخه محروميت دی يا په اموالو کې له تصرف څخه په محروميت لکه پېرودل، پلورل، اجاره، هبه او نورو حقوقي تصرفاتو ته هم شاملېږي؟

**(۱۹) نولسم فعاليت**

**تمرين:**

د جزا کود د ۱۷۳ مې مادې (۳) بند د نوموړي کود د ۱۷۷ مې مادې له (۲) فقرې سره پرتله او تحليل کړئ، او ووایاست چې د هغوی د هرې يوې مرتبه اثر څه شی دی. له افکارو څخه د يوه پر بنسټ د جزا کود د ۱۷۳ مې مادې دريم بند د مالونو او املاکو له ادارې څخه بحث کوي، ظاهراً داسې برېښي چې محکوم عليه د موقوفه (وقف شويو) او وصيت شويو مالونو له ادارې څخه په هيڅ شان نه محرومېږي.

خو د جزا كود ۱۷۷ مې مادې (۲) فقره په مالونو او املاكو كې له تصرف څخه بحث كوي او داسې برېښي چې په اعدام محكوم وقف او وصيت صحيح دی. خو د ده نور حقوقي تصرفات لكه بيع، اجاره، هبه او داسې نور باطل انګېرل كېږي.

**(۲۰) شلم فعاليت**

**مقايسوي پوښتنه:**

د محكوم عليه د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره د قيم ټاكل د جزا كود د ۱۷٦ مې مادې له مخې د محكوم عليه په وړاندېز صورت مومي.

خو د ۱۳۵۵ كال د جزا قانون د ۱۱٦ مې مادې د (۲) فقرې مطابق، د محكوم عليه، څارنوال يا نورو علاقه لرونكو اشخاصو په وړاندېز صورت مومي.

د جزا كود په ۱۷٦مه ماده كې « د څارنوال او نورو علاقه لرونكو اشخاصو» نه درج كول څرنګه توجيه كوئ؟

**(۲۱) يوويشتم فعاليت**

**ګروپي كار:**

ګډونوال دې د ۱۳۵۵ كال د جزا قانون ۱۱٦مه ماده د جزا كود له ۱۷۷مې مادې سره پرتله كړي او مشخص دې كړي چې په اعدام محكوم اشخاص له محكوميت وروسته د اعدام د حكم تر تنفيذ پورې له كومو حقوقو او امتيازونو څخه محرومېږي؟ بيا هغه د جزا په قانون كې له ذكر شويو مواردو سره پرتله كړئ او توپيرونه يې برجسته كړئ.

## دريمه وينا: تكميلي جزاګانې:

تر دريمې وينا لاندې به لومړي تكميلي جزاګانې تعريف، بيا به يې ډولونه بيان او په پای كې به مشخصه شي چې دا جزاګانې پر كومو اشخاصو په كار وړل كېږي.

**لومړۍ فرعه: د تکميلي جزا تعريف:**

د جزا کود ۱۷۸ مې مادې تکميلي جزا داسې تعريف کړې ده: «تکميلي جزا هغه مجازات دي چې پر اصلي جزا برسېره د محکمې په حکم کې تصريح شوې وي.»

د جزا کود د ۱۷۹مې مادې له (۲) فقرې سره سم: تکميلي جزا د اصلي جزا تنفيذ يا دهغې له انقضا وروسته په هر سبب چې وي، تنفيذېږي.

**دويمه فرعه: د تکميلي جزاګانو ډولونه:**

د جزا کود د ۱۷۸مې مادې (۲) فقره د تکميلي جزاګانو ډولونه داسې بيانوي:

«(۲) تکميلي جزاګانې په لاندې توګه دي:

۱. د دې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴، ۵ اجزاوو او د ۱۷۳ مادې په ۱ ، ۲ او ۳ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه محروميت.
۲. د مالونو مصادره.
۳. د حکم خپرول.

پورته ذکر شوي موارد هر يو په لنډ ډول تشريح کوو:

**۱. له حقوقو او امتيازونو څخه محروميدل:**

په دولت کې د خدمت او ټاکنيزو عهدو کې له کانديديدو په استثنأ ټول محروميتونه چې د جزا کود په ۱۷۲ او ۱۷۳ مادو کې د تبعي جزا په توګه پيشبيني شويدي، د تکميلي جزا په حيث د تطبيق وړ دي. دا محروميتونه په لاندنيو مواردو شامل دي:

**يو:** د جزا کود د ۱۷۲مې مادې ۳ ، ۴ او ۵ اجزاوې:

۳- د نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو له استفادې څخه محروميت؛

۴- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هيئت کې له غړيتوب څخه محروميت؛ او

۵- له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت له خوا د امتياز تر لاسه کول.

**دوه:** د جزا کود د ۱۷۳مې مادې ۱، ۲ اجزاوې په لاندنيو ټکيو شامل دي:

۱. په معاملو او دعواوو کې د وصايت، وکالت او قوامت له حق څخه محروميت.
۲. په عقودو او معاملو کې د شهادت له حق څخه محروميت.
۳. د مالونو او املاکو مستقيمه اداره د وقف او وصيت په استثناء.

**درې:** ځيني نور حقوق او امتيازونه په هغه صورت کې چې په قانون کې پېشبيني شوي وي (د جزا کود د ۱۹۷مې مادې ۳ فقره).

نو ويلای شو:

- د جزا کود د ۱۷۲مې مادې ۳ ، ۴، او ۵ اجزاوې پر هغه اشخاصو د تکميلي جزا په توګه د تطبيق وړ دي چې تر لسو کلونو لاندې طويل حبس او يا متوسط حبس محکوم شوي وي[1].
- خو د نورو تکميلي جزاګانو په اړه (يعنې د جزا کود د ۱۷۳مې مادې ۱، ۲، ۳ اجزاوې، همدارنګه د مالونو مصادره او د حکم خپرول)، تر لسو کلونو لاندې د محکوم کېدلو او يا د متوسط حبس قيد يې ذکر کړی نه دی.
- د جزا کود د ۱۷۹مې مادې په (۳) فقره کې له ذکر شويو محروميتونو څخه موخه هغه محروميتونه دي چې د جزا کود په خاصه برخه کې د ځينو جرمونه لپاره پېشبيني شوې ده.

د يادونې وړ ده چې د جزا کود دويم کتاب د لومړي او دويم باب په جرمونو کې که چيرې د جرم جزا له لسو کلونو څخه لږه وي، په ظاهره بڼه تبعي او تکميلي جزاګانې دواړه په ځينو مواردو کې صدق کوي. په دې صورت کې که چېرې د قانون په حکم پر محکوم عليه تبعي جزا تطبيق شي، عين جزا په مکرر ډول د تکميلي جزا په توګه نه تطبيق کېږي.

په تکميلي جزاګانو کې له حقوقو او امتيازونو څخه د محروميت موده په لاندې مباحثوي پوښتنه کې مطرح شوې ده.

---

[1] - د جزا کود د ۱۷۹ يمې مادې د لومړۍ فقرې پر بنسټ.

**(۲۲) دوه ويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**
د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون کې په تکميلي جزا کې له حقوقو او امتيازاتو څخه د محروميت موده څومره پېشبيني شوې وه او د ۱۳۹۶ کال په جزا کود کې څومره پېشبيني شوې ده؟
روزونکی دې له ګډونوالو سره بحث وکړئ چې په حکم کې د محکمې له خوا د محروميت د مودې ټاکنه مهمه ده. ځکه جزاګانې که اصلي وي يا تبعي او يا تکميلي، نه ښايي نامحدوده وي.

**۲. مصادره:**

**الف: د مصادرې تعريف:**

د جزا کود ۱۸۰مې مادې مصادره داسې تعريف کړې ده:
« (۱) مصادره د محکوم عليه د منقولو يا غير منقولو مالونو او نورو جرمي شيانو له جبري او بلاعوضه اخيستلو څخه عبارت ده چې د قانون له حکمونو او دواکمنې محکمې له فيصلې سره سم د هغو ملکيت دولت ته انتقالېږي.
(۲) مصادره يوازې په هغو مواردو کې چې په قانون کې پېشبيني شوي دي، حکم کيدلای شي.».
يو شمېر پوهانو مصادره داسې تعريف کړې ده: د جرم پورې د هر اړوند مال د ملکيت الغا او د دولت ملکيت ته د هغه بلاعوضه لېږدول (انتقال) ته مصادره وايي.[1]

**ب: د نغدي جزا او مصادرې پرتله کول (مقايسه):**

د مصادرې او نغدي جزا ورته والی په دې کې دی چې دواړه مالي مجازات دي او نيغ په نيغه د محکوم عليه شخص مالي توانايي په نخښه کي ( هدف ګرځوي)، خو له بلې خوا ددوې تر مينځ توپيرونه هم شتون لري چې يو له بله يې بېلوي. دا توپيرونه عبارت دي له:

[1] - شرح قانون العقوبات، القسم العام، اشرف توفيق، ص ۲۹٦.

- نغدي جزا عيني جزا نه ده، بلکې د دولت خزانې ته د ټاکلو پيسو په ورکړې د محکوم له ملزم کولو څخه عبارت دی. خو مصادره عيني جزا ده ، په دې معنا چې پر يو ټاکلي مال يا څيز (شی) واردېږي او لزوماً د هماغه څيز ملکيت له شخص څخه سلبوي او دولت ته يې ليږدوي. په يو استثنايي حالت کې،که چيرې د مصادرې محل مال له سببونو څخه په يوه سبب د حصول وړ نه وي، د هغه معادل وجه مصادره کېږي.
- نغدي جزا اصلي جزا ده، خو مصادره کله تکميلي (جزا کود ۱۷۸مه ماده) او کله مالي تدبيرونه ( د جزا کود ۲۰۳مه او ۲۰۴مه ماده) دي؛
- نغدي جزاگانې د قباحت او جنحې په جرمونو پورې ځانگړې دي؛ په داسې حال کې چې په ټولو جرمونو کې د تطبيق وړ دي.
- نغدې جزاگانې تل جزا گڼل کېږي. خو مصادره کيدای شی د تکميلي جزا او يا هم د تأميني تدبيرونه په توگه په کار يوورړل شي.

**ج: د مصادرې ډولونه:**

مصادره د تطبيق له پلوه په دوه ډوله ده: يو د تکميلي جزا په توگه او بله د مالي تأميني تدبيرونو په توگه.
د لا زيات وضاحت لپاره دواړه ډولونه تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی ډول: مصادره د تکميلي جزا په توگه:**

د جزا کود د ۱۷۸مې مادې له مخې، تکميلي جزا هغه مجازات دي چې پر اصلي جزا سربيره د محکمې په حکم کې يې تصريح موندلی وي. د نومړې مادې په (۲) فقره کې تکميلي جزاگانې ليست شوي دي چې « د مالونو مصادره» هم له هغو څخه يوه ده.

**- د تکميلي جزا په توگه د مصادرې تعريف:**

مصادره هغه مهال د تکميلي جزا په توگه اوړي چې د مصادرې محل مال په خپل ذات کې جرم نه وي خو له جرم سره يو له لاندې درې گونو اړيکو څخه ولري:

۱. د جرم عايد وي؛ يا

۲. د جرم په ارتکاب کې تر استفادې لاندې راغلی وي؛ اويا
۳. د جرم په ارتکاب کې د استفادې په قصد تدارک شوی وي که څه هم عملاً تر استفادې لاندې نه وي راغلی[۱].

هر کله که د پام وړ مال اړيکه د دريو پورته ذکر شويو مواردو له يوه سره ثابته شي، محکمه وروسته له هغې چې تورن په اصلي جزا محکوم کړي، کولای شي د مال په مصادره هم حکم وکړي. خو که چيرې جرم ثابت نه شو، مال هم د مصادرې وړ نه دی.

**- د تکميلي جزا په توګه د مصادرې ځانګړنې:**

د تکميلي جزا په توګه مصادره لاندې ځانګړنې لري:
۱. مصادره د تکميلي جزا په توګه د اصلي جزا تابع ده. يوازې هغه مهال پرې حکم کېږي چې په اصلي جزا حکم شوی وي. خو که له سببونو څخه په کوم سبب محکوم عليه برائت حاصل کړي، په مصادرې حکم کول جواز نه لري. په داسې حال کې چې په مصادره کې د تأميني تدبيرونو په توګه په اصلي جزا محکوميت شرط نه دی، ځکه هغه مال چې حيازت يې جرم دی په هر حال مصادره کېږي.
۲. په مصادره کې د تکميلي جزا په توګه د دريمګړو اشخاصو حقوق چې د ښه نيت درلودونکي دي، محترم ګڼل شوي او رعايت کېږي. له دې کبله که چيرې د دريمګړو اشخاصو له مال څخه د هغوی له خبرتيا پرته د جرم په ارتکاب کې استفاده شوې وي، د مصادرې وړ نه دي. په داسې حال کې چې په مصادره کې د مالي تأميني تدبيرونو په توګه د دريمګړو اشخاصو حقوق نه رعايت کېږي.
۳. د تکميلي جزا په توګه مصادره؛ په هغو مواردو کې چې قانون په هغه تصريح کړې ده، الزامي ده، خو په هغه صورت کې چې قانون هغه پېشبيني کړي نه وي، مصادره جواز نه لري.

[۱] - دا درې واړه حالتونه د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې ذکر ؤ، د جزا کود هغه په ۱۸۲ - يمه ماده کې ذکر کړي دي.

همدا رنګه د جزا کود د ۵۰۹ مې مادې پر مؤجب، د پیسو د سپینولو او ترورېزم د تمویل له جرمونو څخه تر لاسه شوي عواید او وسایل او امکانات چې استفاده ترې شوې او یا د جرم په ارتکاب کې ترې د استفادې قصد موجود ؤ، د صلاحیت لرونکې محکمې له خوا لزوماً مصادره کېږي.

**انتقادي تفکر:**

په مقایسوي حقوقو کې اصل دا دی چې د تکمیلي جزا په توګه مصادره یو اختیاري امر دی او د قاضي په واک کې دی، یوازې د استثناء له باب څخه قانون جوړوونکي په ځینو جرمونو کې مصادره الزامي کوي. د مصادرې د اختیاري والي اهمیت دا دی چې قاضي له شرایطو او احوالو او د جرم اوضاع او له هغه څخه د استحصال وړ عوایدو سره سم، معقوله او منقطي پرېکړه وکړي ترڅو عدالت تطبیق شي. د بېلګې په ډول: که چېرې یو مجرم په داسې جرم مرتکب شي چې عاید یې زر افغانۍ وي او د هغه په ارتکاب کې له داسې موټر څخه ګټه پورته کړي چې ارزښت یې دوه میلیونه افغانۍ دی، په دې صورت کې د موټر مصادره منطقي نه ده.

خو دا اصل د جزا کود په نافذېدلو سره بدلون وموند، ځکه جزا کود مصادره په ټولو هغو مواردو کې چې په قانون کې پېشبیني شوي دي، لازمي ګرځولې ده.

**- د تکمیلي جزا په توګه د مصادرې شرطونه:**

د دې لپاره چې مصادره د تکمیلي جزا په توګه صورت ومومي، د لاندنیو شرایطو شتون اړین دی:

**الف – د جرم د ارتکاب مخکې والی (سبق):**

د جرم او جزا د قانونیت د اصل پر بنسټ او دې ته په پام سره چې مصادره د تکمیلي جزا په توګه د مجازاتو یو ډول دی، د مال مصادره د جرم له ارتکاب څخه وړاندې صورت نه شي موندلی. له دې امله کومه وسله چې شخص په مشروع دفاع کی ترې استفاده کړې ده، د مصادرې وړ نه ده، مګر دا چې نوموړې وسله په خپل ذات کې غیر قانوني وي. دا مال به دبل جرمي وصف پر بنسټ د مصادرې وړ وي.

کومه مصادره چې د تأمیني تدبیرونو په توګه صورت مومي، د جرم د ارتکاب مخکې والی (سبق) د مصادرې شرط نه دی. حتی مال د تورن د برائت په صورت کې مصادره کېږي. ځکه د شخص سره د مال شتون په ده باندې د ضرر د پیښېدو احتمال لري. او دا مصادره له ده څخه د احتمالي ضرر د دفع کولو په خاطر، صورت مومي.

**ب – د قانوني نص او قضايي حکم شتون:**

د اساسي قانون د څلویښتمې مادې څلورمې فقرې مصادره د قانون په حکم او صلاحیت لرونکې محکمې حکم ته مقید کړې ده او دا رنګه تصریح کوي: «د هیچا ملکیت د قانون د حکم او د با صلاحیته محکمې له پریکړې پرته نه مصادره کېږي.»

دا شرط په حقیقت کې د دوه ټکو متضمن دی: د مصادرې د جواز لپاره د قبلي قانون نص شتون او د مصادرې پر بنسټ د قضایي حکم صادرېدل.

سربیره پردې، مصادره د تکمیلي جزا په توګه هغه مهال حکم کېږي. چې مجرم په اصلي جزا محکوم شوی وي. په دې معنا چې مصادره د تکمیلي جزا په توګه د تورن په الزام بنا د وړاندوینې حکم له صادرېدو او دده د اصلي جزا د ټاکلو پرته د تطبیق وړ نه ده. ځکه قانون د تکمیلي جزا په تعریف کې ویلي دي: «هغه مجازات دي چې پر اصلي جزا برسېره د محکمې په حکم کې تصریح شوې وي». او د جزا کود د ۱۷۹ مې مادې په (۲) فقره کې تصریح شوې ده چې: «تکمیلي جزا د اصلي جزا له تنفیذ یا د هغې له انقضا وروسته په هر سبب چې وي، تنفیذېږي».

**ج – له جرم سره د مال د اړیکې ثبوت:**

د مال او جرم تر منځ د اړیکې شتون یو بل شرط دی چې د جزا کود په ۱۸۲ – یمه ماده کې په صریحه توګه یاد شویدی. د مصادرې محل مال باید له جرم څخه ترلاسه شوی (د جرم عواید) یا د جرم په ارتکاب کې استفاده شوی وي او یا په جرم کې د استفادې په موخه آماده شوی وي[1]. یوازې دا مالونه دي چې د

[1] - دا مطلب د ۱۳۹٦ کال د کب د پنځمې نېټې د۱۲۸۴ ګڼه رسمې جریده کې خپاره شوي له مسکراتو او نشه يي توکیو سره د مبارزې قانون په ۳۲ – مه ماده او هم د ۱۳۹۳ کال د پیسو سپینولو قانون ۳۹ – مې مادې په دریمه فقره کې راغلی دی. همدا ډول د جزا کود د ۱۸۲ یمی مادی لمړی فقری ته مراجعه وکړی.

تکميلي جزا په توګه د مصادرې وړ دي. د مجرم نور شخصي مالونه چې د جرم له ارتکاب سره کوم نسبت نه لري، د مصادرې وړ نه دی. مګر دا چې د جرم اړوند مال مجرم پټ کړی وي. په دې صورت کې د جزا کود د ۵۰۹ مې مادې د (۳) فقرې په مؤجب عمل کېږي: « که چیرې هغه وجوه یا شتمنۍ چې د هغو په مصادره حکم صادر شوی، لاس ته رانه شي، د هغو د معادلو وجوهو او شتمنيو په مصادرې حکم صادرېږي».

| (۲۳) دروېشتم فعاليت |
|---|
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| آيا د مال ضبطول، د هغه د مصادرې شرط دی؟ په بل عبارت آيا امکان لري چې محکمه د هغه مالونو په مصادره حکم صادر کړي چې نه دي ضبط شوي؟ |

**دويم ډول: مصادره د مالي تأميني تدبيرونو په توګه:**

مصادره د مالي تأميني تدبيرونو د فهرست په سر کې قرار لري (د جزا کود ۲۰۳مه ماده). مصادره هغه مهال د تأميني تدبيرونو په توګه پيژندل کېږي چې د مصادرې د محل مال په خپل ذات کې جرم وي او په خورا دقيق عبارت د هغه مالونو له جملې څخه وي چې ساتل، جوړول، استعمال - واردول، صادرول، وړاندې کول، پير يا پلور يې په خپل ذات کې جرم وي (د جزا کود ۲۰۴ مه ماده) لکه له مجوز پرته وسله، نشه يي توکي، تاريخ تير شوي درمل او داسې نور.

مصادره په دې ځای کې يو ډول وقايوي تدبير دی چې د هغه خطرونو د منع کولو او يا کمولو په موخه دی چې د نوموړو مالونو له بابته ټولنې ته متوجه کېږي. له همدې ځايه دی چې دا ډول مصادره:

۱. يوه وجوبي او الزامي چاره ده. يعنې محکمه مکلفه ده د هغو په مصادره حکم وکړي؛
۲. د مال د څښتن ښه نيت (حسن نيت) د مصادرې مانع نه ګرځي.
۳. په دې ځای کې په اصلي جرم د تورن محکوميت شرط نه دی بلکې حتی د تورن د برائت په صورت کې د دې ډول مالونو په مصادره حکم صادرېږي.

همدارنګه شونې ده تورن اصلاً نيول شوی( ګرفتار شوی) نه وي او يا اصلاً معلوم نه وي، دا مالونه مصادره کېږي.

د جزا کود ۲۰۴مه ماده د تأميني مصادرې په اړه داسې حکم کوي: «که چيرې ضبط شوي شيان د هغو شيانو له جملې څخه وي چې د هغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، صادرول، وړاندې کول، پير يا پلور په خپل ذات کې جرم وي، محکمه د هغو په مصادرې حکم کوي، که څه هم چې نوموړي شيان د محکوم عليه ملکيت نه وي يا تورن له محکمې څخه برائت واخلي».

د پورتنۍ مادې وروستنۍ جمله دا مفهوم افاده کوي چې په دې باب کې له مصادرې څخه موخه د تورن مجازاتول نه دي، د هر هغه شيز متوقف کول او له خپريدو څخه يې مخنيوی دی چې په خپل ذات کې خطرناک وي[1]. شونې ده کله سره له دې چې جزايي دعوی د مسقطه (ساقطوونکو) سببونو څخه د يوه په سبب يا د مسئووليت د موانعو د شتون پر بنسټ ساقط شي، خو محکمه د ضبط شويو مالونو په مصادره حکم کوي، که څه هم مصادره يې د څارنوال په واسطه غوښتل شوې نه وي. په دې خاطر چې د څارنوال عدم مطالبه (نه غوښتنه) د مصادرې وړ شيز خطرناک والی نه زايلوي[2].

**(۲۴) څلرويشتم فعاليت**

**انتقادي تفکر/ دقانون تحليل:**

د ۱۳۵۵ کال جزا قانون د جزا کود له ۱۸۳مې مادې سره پرتله کړئ او د هغوی عمده توپيرونه برجسته کړئ. په دې ترڅ کې د جزا کود په تعبير کې موجودې ستونزې مشخص او کره کتنه پرې وکړئ:

د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د ۱۱۹مې مادې متن:

«۱- محکمه **کولای شي** په هغه مواردو کې چې قانون مصادره د جزا په حيث نه وي ټاکلي د هغه شيانو په مصادره چې د جرم د ارتکاب څخه لاس ته راغلی وي يا د هغې په ارتکاب کې استعمال شوي وي يا د جرم په ارتکاب کې د استعمال په قصد تيار شوي وي حکم وکړي.

۲-په مصادرې حکم په هيڅ صورت د بل چا حقوق چې د ښه نيت لرونکي وي نه اخلالوي.»

[1] - ابو خطوة – أحمد شوقى عمر، شرح الاحکام العامه لقانون العقوبات، ص ٦٩٩، دارالنهضة العربية ۲۰۰۷.

[2] - شرح قانون العقوبات، القسم العام، اشرف توفيق، ص ۲۹۹.

د جزا کود د ۱۸۲مې مادې متن: «(۱) محکمه د هغو پیسو او شیانو چې د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلي، د جرم په ارتکاب کې استعمال شوي، د جرم په ارتکاب کې د استعمال په قصد برابر شوي یا له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو **یا هغو شیانو چې په خپل ذات کې جرم دی، په مصادرې حکم کوي**.
(۲) پر مصادرې حکم د ثالثو اشخاصو حقوق چې د حسن نیت خاوندان وي نه اخلالوي.

**(۲۵) پنځه ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**
همایون په دې پلمه چې خپل ناروغ روغتون ته انتقالوي، د کبیر په نامه د خپل ګاونډي موټر په رعایت اخلي خو د هغه په موټر کې نشه یي توکي انتقالوي. همایون له موټر سره یو ځای نیول کېږي. څارنوال صورت دعوی تهیه کړې او د موټر د مصادرې غوښتونکی هم شوی دی. محکمه به د موټر د مصادرې او نه مصادرې په اړه څه تصمیم ونیسي؟ او پر کومو دلایلو به استناد وکړي؟

**د مصادرې وړ مالونو مصادره:**
په اوسني عصر کې د محکوم علیه د ټولو مالونو مصادره اعم له دې چې له جرم سره اړیکه ولري یا ونه لري، جواز نه لري. ځکه له یوې خوا غیر عادلانه ده او له بلې خوا اصلاحې جنبه نه لري او له بلې خوا دده د کورنۍ په نورو افرادو چې د جرم په ارتکاب کې هیڅ ډول رول نه لري منفي آثار پریباسي.
خو هغه شتمنۍ چې له جرم سره اړیکه لري او د قانون د احکامو مطابق د مصادرې وړ دي، محکمه مکلفه ده د هغو د مصادرې په برخه کې محتاطه وي او خپل ځان ډاډه کړي چې دا مالونه د محکوم علیه او دده د کورنۍ د اعاشې، اباتې او معیشیت د تأمین له اړتیاوو څخه دي یا نه. که چیرې ثابته شوه چې د دې مالونو مصادره د محکوم علیه یا دده د کورنۍ ژوند په خطر کې اچوي، نوموړی مال نه مصادره کېږي.
د جزا کود ۱۸۱مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري:
«(۱) د محکوم علیه ملکیت چې د هغه او د هغه د کورنۍ د اعاشې، اباتې او د معیشیت د تأمین د نورو لګښتونو (مصارفو) لپاره د اړتیا وړ وي، نه شي مصادره کیدی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی د ملکيت فهرست د جلا تقنيني سند په واسطه تثبتېږي».
پوښتنه: آيا دا تقنيني سند نافذ شوی؟ او نوم يې څه دی؟

**(۲۶) شپږ ويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

په ۱۸۱مه ماده کې ذکر شوی حکم په کوم ډول مصادره کې د تطبيق وړ دی؟ په مصادره کې د تکميلي جزا په توګه او يا مصادره د مالي تأميني تدبيرونه په توګه او يا په دواړو کې؟ په بل عبارت، يو شخص تاريخ تير شوي مالونه يا يوه اندازه نشه يي توکي له ځان سره لري. د هغه او د کورنۍ ژوند يې ور پورې تړلی دی. آيا امکان لري له ۱۸۱مې مادې څخه په استفادې د هغو له مصادرې څخه امتناع وشي؟

**۳- د حکم خپرول:**

د تکميلي جزاګانو له جملې څخه يو هم په جريدو او ټوليزو رسنيو کې د حکم خپرول دي. د جزا کود ۱۸۳مه ماده په دې اړوند داسې حکم کوي:

« (۱) محکمه کولی شي په ټوليزو رسنيو کې د حکم خپرول د تکميلي جزا په توګه په فيصله کې تصريح کړي.

(۲) حکم د فيصلې د قطعيت تر وخته پورې نه شي خپريدی.

دغه اقدام د علني محاکمې د جوړولو او د ټوليزو رسنيو له لارې د قضيې د جريان د خپرولو خنډ نه ګرځي.

(۳) د جنسي تجاوز، قذف، توهين او ښکنځلو په جرمونو کې د مجني عليه موافقت د حکم په افشاء او خپرولو کې حتمي دي.

(۴) که چيرې د قذف، توهين او ښکنځلو جرم د رسنيو له لارې صورت موندلی وي، محکمه د دې مادې د (۲ او ۳) فقرو د حکم په رعايت سره د هماغې رسنۍ په واسطه د هغه په خپرولو حکم کوي».

د حکم خپرول ډیرې فایدې لري، له یوې خوا کوم مهال چې خلک د مجرمینو له محکوم کیدلو څخه خبرېږي، د هغوی اعتماد قضا ته لا زیات جلبېږي. له بلې خوا، د نورو د عبرت او محکوم علیه د انزجار سبب کېږي. د دې تر څنګ د حکم خپرول د حقوقي خبرتیا د تصمیم او قانون د مادو د تحلیل لامل کېږي. د حکم خپرول د تکمیلي جزا په توګه اصولاً یوه اختیاري چاره او د محکمې له صلاحیتونو څخه دی، په دې دلیل چې قانون د «محکمه کولای شي...» له تعبیر څخه استفاده کړې ده او «کولای شي» اختیار افاده کوي نه الزام. خو په هغه مواردو کې چې د جزا کود په خاصه برخه کې د حکم خپرول په اصلي جزا سربېره پیشبیني شوی وي، لکه د رشوت جرم (۳۷۸مه ماده) یا د افلاس جرم (۷۷٦مه ماده) په دا رنګه مواردو کې د حکم خپرول یوه الزامي چاره ده او محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې پرې تصریح وکړي.

**د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۹ هجري لمریز کال د لړم د میاشتې په (۷) نېټه په (۱۳۸۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د جزا کود په ځینو مادو کې په زیاتوالي او تعدیل کې د جزا کود په ۱۸۳مه ماده کې (۵) فقره ور زیاته شوې ده چې په لاندې جرمونو کې د حکم خپرول یې یو الزامي امر ګڼلی دی: (د رشوت، اختلاس، له نفوذ څخه ناوړه ګټنه، له دندې یا موقف څخه ناوړه ګټنه، د شتمنۍ غیر قانوني زیاتوالی، تزویر، د افرادو پر وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظفینو ناوړه رویه او اخاذي، د دندو او القابو انتحال، د مهر له منځه وړل یا ماتول، سرقت او د رسمي پاڼو او سندونو تلف کول، په پنځم باب کې د عدالت له تطبیق څخه د ممانعت په فصل کې درج شوي جرمونه، د پیسو پرېمنځلو جرمونه، د ځمکې او غیر منقول مالونو غصب، د تاریخي او یا فرهنګي آثارو پر وړاندې جرمونه او د کانونو، نفتو او ګازو پر وړاندې جرمونه).**

د یادونې وړ ده چې د حکم خپرول په دوه ډوله دي: پر الزامیت د بنا احکامو خپرول، او پر برائت د بنا احکامو خپرول. پر دې بنسټ پر الزامیت د بنا احکامو خپرول، تکمیلي جزا انګیرل کېږي، دا رنګه چې ۱۸۳ – یمې مادې صراحتاً هغې ته تکمیلي جزا ویلی ده. خو پر برائت د بنا احکامو خپرول چې د تورن د بیګناهۍ د اثبات په موخه صادرېږي، جزا نه ګڼل کېږي[1]. د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون په خپله

[1] - خلف، علی حسین- الشاوی، سلطان عبدالقادر، المبادئ العاملة فی قانون العقوبات، ص ۴۳٦۰ – ۴۴۲ (الکترونیکی نسخه)

۲۸٦مه ماده کې پر برائت د بنا حکم خپرول په هغه صورت کې چې د تورن د محکوميت حکم پخوا خپور او ډله ييز شوی وي، پر ښارنوالۍ الزامي ګرځولی دی[1].
ليدل کېږي چې قانون د حکم خپرول او د هغه اجراآت نه دي مشخص کړي، بلکې دا صلاحيت يې محکمې ته پرې ايښی دی تر څو د خپل حکم په متن کې پرې تصميم ونيسي، لکه د حکم د بشپړ متن خپرول او يا هم د هغه د نص په لنډيز بسنه (اکتفا).
همدارنګه قوانينو په يوه او يا له يوې جريدې او رسنۍ څخه په زياتو کې د حکم د خپرولو، د خپرولو مودې او دفعاتو، په عمومي ځايونو کې د جريدې د ځړولو (نصب) د خپرولو لګښت او د متحمل کيدونکي لورې او د هغه د نورو جزيې مسايلو په اړه څه شی تصريح کړی نه دی. په داسې حال کې چې د ځينو هېوادونو په قوانينو کې محکوم عليه شخص د خپرولو د لګښت د ورکولو مسوول پيژندل شوی او دا يو ډول مالي ثانوي مجازات دې چې پرې تحميلېږي (تپل کېږي)[2].
په دې وروستيو کې د احکامو دخپرولو يو بل ډول دی چې د سترې محکمې په واسطه د قضيې د اړخونو د مشخصاتو په حذفولو سره د قضايي رويې د توحيد په موخه صورت مومي. دا ډول خپرول جزا نه ګڼل کېږي، بلکې له قوانينو څخه د سترې محکمې د برداشت د تصميم په موخه او د قضايي رويې د توحيد په منظور صورت مومي د ۱۳۹۲ کال د قضائيه قوی د تشکيل او واک قانون د ۱۰۷مې مادې دويمه فقره په دې هکله دا رنګه صراحت لري:« د محکمو قطعي فيصلې د قضايي واحدې رويې د تصميم، څېړنې او تتبع په منظور د سترې محکمې د لزوم ديد سره سم تکثير او خپرېږي.»

[1] - د ۱۳۹۳ کال د جزايی اجراآتو قانون د ۲۸٦ - يمې مادې متن دارنګه وايي: «که چيرې د تورن د محکوميت حکم په ټوليزو رسنيو کې د مخه خپور شوی وي او د نوي کتنې په پايله کې د هغه په برائت حکم صادر شي، ښارنوالي مکلفه ده، د هغه د برائت حکم د دولت په لګښت په هماغو ټوليزو رسنيو کې خپور کړي.

[2] - المبادئ العامة فی قانون العقوبات، ص ۴۳٦ - ۴۴۲ .

**الف: د خپراوي وسيله:**

د جزا کود د ۱۸۳مې مادې د لومړۍ فقرې پر بنسټ د حکم خپرول په ټولنیزو رسنیو کې صورت مومي. د ۱۳۸۸ کال د ټولنیزو رسنیو قانون د دریمې مادې لومړي بند رسنۍ داسې تعریف کړې دی «رسنۍ له لاندنیو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د پیغام، معلوماتو او اطلاعاتو د لیږدونې وسیله ده:

- بریښنایي رسنۍ: راډیو، ټلویزیون، کیبلي شبکه او انټرنټ.
- چاپي رسنۍ: ورځپانه، جریده(اووه نیزه، پنځلس ورځنۍ خپرونه، میاشتنۍ، ګاهنامه (تقویم)، فصل نامه، کلنۍ، پوسټر او خبرنامه).

**ب: د احکامو د خپرولو شرایط او محدودیتونه:**

۱. له قطعیت څخه د مخه د حکم خپرول جواز نه لري.
۲. په ځینو جرمونو کې د مجنی علیه له موافقې پرته د حکم خپرول جواز نه لري. دا جرمونه عبارت دي له: د جنسي تیري، قذف، توهین او ښکنځلو له جرمونو څخه. همدا رنګه د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي منعې د ۱۳۸۸ کال قانون ۱۹مې مادې د جنسي تېري او فحشا ته د مجبورولو جرمونو د قرباني د هویت افشا کول چې جرم یې ګڼلی دی، ایجاب کوي چې د مجني علیها له موافقې پرته فحشا ته د مجبورولو جرمونو په اړوند د صادر شویو احکامو خپرول هم جایز نه وي.

**ج: د قضیې د بهیر خپرول:**

د یادونې وړ ده چې د قضیې د بهیر خپرول د حکم له خپرولو سره توپیر لري. د قضیې د بهیر خپرول د محاکمې د علنیت د اصل له لوازمو څخه دی چې د اساسي قانون په (۱۲۸مه ماده) د ۱۳۹۲ کال د قضائیه قوې د تشکیل او واک قانون په (یوولسمه ماده) او د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون په (۲۱۳ – مه ماده) کې پرې بحث شویدی. د قضیې د بهیر خپرول د محکمې د رئیس په اجازه صورت مومي او دده له اجازې پرته جایز نه دی دجزایي اجراآتو قانون د ۲۱۵ – مې مادې دریمه فقره).

## د لومړي څپرکي پایلیزه:

لومړی څپرکی د دوه مبحثونو درلودونکی دی، په لومړي مبحث کې دا موضوعات لکه: د جزا تعریف د هغې موخې او ځانګړتیاوې په بحث نیول شوي دي. او په دویم مبحث کې یې د جزا ډولونه ( اصلي، تبعي او تکمیلي) د هغو له جزئیاتو او اقسامو سره په بحث نیول شوي دي. د دواړو مبحثونو مهم ټکي کولای شو په لاندې ټکیو کې رالنډ کړو:

۱. د مجازاتو عمده موخې عبارت دي له: د عدالت تأمین، د جرم د پیښیدو مخنیوی، د مجرم اصلاح او بیا ځلي تربیت، دجرم د قرباني رضایت، ټولني ته د رسیدلو زیانو جبران، اود افرادو د حقوقو تضمین او رعایت.

۲. د جزا قانوني والی، د جزا شخصي والی، د جزا عمومي والی او دهغې په تطبیق کې مساوات، د جزا له خورا مهمو ځانګړنو څخه دي.

۳. د انساني کرامت مخالفه جزا جواز نه لري.

٤. نغدي جزا په افغاني پیسو ټاکل کېږي.

٥. طفل په نغدي جزا نه محکومېږي.

٦. حبس د جزاء په کود کې په (قصیر، متوسط حبس، طویل حبس، ۱ درجه دوام حبس او ۲ درجه دوام حبس) وېشل شوی دی، چې د ۱۳٥٥ کال د جزا قانون سره توپیر لري.

۷. اعدام د افغانستان د جزایي قوانینو په تاریخ کې بیلابیل تعریفونه درلودل او د اجراء کولو څرنګوالی یې هم متفاوت پېشبیني شویدی. د افغانستان په قوانینو کې د اعدام د تطبیق د مواردو د کمښت په اړه کوښښونو صورت موندلی چې بیلګه یې د ۱۳۹٦ کال د جزا کود کې هم تر سترګو کېږي.

۸. تبعي جزاگانې د لاندې ځانګړتیاوو درلودونکي دي:
۱-د قانون په حکم يې مرتب کيدل. ۲-د محکمې په حکم کې يې تصريح کيدو ته نه اړتيا ۳- د تفکيک او تجزيې د وړتيا نه درلودل. ۴- د هغو تطبيق د جنايت د جرمونو پر مرتکبينو چې د حبس موده يې له لسو کلونو څخه زياته وي. ۵- د جزا کود دويم کتاب لومړی او دويم باب کې درج شويو جرمونو پر مرتکبينو د هغه تطبيق د محکوم بها حبس مودې له په پام کې لرلو پرته.

۹. له نغدي جزا سره د مصادرې عمده توپيرونه په دې کې دی چې مصادره عيني جز ده او د شي (څيز) له ذات پورې تعلق نيسي، خو نغدي جزا د شي په عين پورې تعلق نه لري. او له بلې خوا نغدي جزا د قباحت او جنحې په جرمونو پورې اختصاص موندلی دی، په داسې حال کې چې مصادره په ټولو جرمونو کې د تطبيق وړ ده.

۱۰. مصادره په دوه ډوله ده؛ مصادره د تکميلي جزا په توګه او مصادره د تأميني تدبيرونو په توګه.

۱۱. د حکم خپرول هم د تکميلي جزاگانو له جملې څخه دي.

د حکم خپرول د حکم له قطعيت تر مخه جواز نه لري. د حکم خپرول د جنسي تيري، قذف، توهين او ښکنځلو په جرمونو کې د مجنی علیه له اجازې پرته جواز نه لري.

# دويم څپرکی

# تأميني تدبيرونه

**موخې:**

د نوموړي څپرکي په پای کې به ګډونوال په دې وتوانېږي تر څو:

١. د آزادۍ سلبوونکي او تحديدوونکي تدبيرونه تشريح او صحيح يې تطبيق کړي؛
٢. د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه تشريح او په صحيح بڼه يې تطبيق کړي؛
٣. د مصادرې وړ مالونه دقيق تشخيص کړي؛
٤. هغه موارد چې په هغو کې محلات مسدود يا حکمي شخصيتونه منحل کېږي وپېژني او د لزوم په صورت کې يې تطبيق کړي.

**عنوانونه:**

١. د آزادۍ پورې اړوند تأميني تدبيرونه :
- د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه؛ او
- د آزادۍ محدودوونکي تدبيرونه.

٢. د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه:
- د ولايت، وصايت او قيموميت سقوط؛ او
- په ټاکلې پېشه (کسب ) يا حرفې له بوختيدو څخه محرومت.

٣. مالي تدبيرونه:
- مصادره؛
- د محل مسدودول (تړل)؛ او
- د حکمي شخص د فعاليت متوقف کول.

# دويم څپرکی

# تأميني تدبيرونه

پخوا د مجازاتو تطبيقول له جرمونو سره د مبارزې لپاره يوازينۍ وسيله انګيرل کيده، خو د وخت په تيريدو سره وليدل شول چې دا وسيله (مجازات) په يوازې ډول مطلوبې موخې ته د رسېدو لپاره کافي نه ده او په ډېرو مواردو کې د جرمونو په مخنيوي کې اغيزناکه نه واقع کېږي، نو له دې امله حقوقپوهان او قانون جوړوونکي په دې لټه کې شول تر څو د جرم له تکرار او د هغو له خطرونو څخه د ټولنې د ملاتړ، له جرمونو سره د مبارزې، د مجرم او د هغه د بيا ځلې جرمي اقداماتو د احتمال تر کنټرول لاندې راوستل (کابو کولو) په موخه بديلې لارې وپلټي، له همدې کبله د وقايوي وسايلو په توګه د تأميني تدبيرونو تر لاس لاندې نيول د هېوادونو په قوانينو له هغې جملې افغانستان کې درج شول.

د دې څپرکې په لومړی مبحث کې به د تأميني تدبيرونو تعريف او موخې مشخصې او په دويم مبحث کې به د تأميني تدبيرونو ډولونه تشريح شي.

## لومړی مبحث: د تأميني تدبيرونو تعريف، موخې او موارد:

تر دې مبحث لاندې به د تأميني تدبيرونو تعريف، موخې، موارد، شرايط او د هغه له احکامو څخه د سرغړونې جزا تر بحث لاندې ونيول شي.

### لومړۍ وينا: د تأميني تدبيرونو تعريف او موخې:

د ۱۳۹٦ جزا کود د ۱۸۴ مې مادې تأميني تدبيرونه داسې تعريف کړي دي:

«تأميني تدبيرونه له هغو اقداماتو څخه عبارت دي چې د ذيصلاح محکمې له خوا د تورن يا محکوم د تربيت يا اصلاح، له ټولينز ژوندانه سره دهغه د بيا انطباق يا د تورن يا محکوم د خطرناک والي حالت ته په پام سره د جرم له پيښيدو او تکرار څخه د مخنيوي لپاره نيول کېږي او په فيصله کې ذکر کېږي».

د جزا كود د ۱۸۴مې او ۱۸۵مې مادې په پام کې نيولو سره ليدل کېږي چې له تأميني تدبيرونو څخه بنسټيزه موخه د هغه خطرونو له منځه وړل يا محدودول دي چې ټولنيز ژوند د تورن يا محکوم عليه له اړخه ګواښي، نه د هغه شخص دردمنول او کړاو چې د هغه پر وړاندې دا تدبيرونه نيول کېږي. همدارنګه د دې تدبيرونو بله موخه ټولنيز آبرومندانه او عادي ژوندانه ته د مجرم بېرته ورستنول دي، تر څو وکولای شو ټولنه مخکيني حالت ته د مجرم له بيرته ستنېدو له خطر او د نوي جرم د ارتکاب له تکرار څخه، خوندي کړو. له همدې کبله اصل دا دی چې د امکان تر حده هڅه وشي تر څو تأميني تدبيرونه يوازې د خطر د محدودولو په خاطر په کار يووړل شي. ځکه موخه ترې ځورول، درد او تنبيه نه ده. نو پر دې بنسټ تر وسې پورې دې هڅه وشي ترڅو داسې تطبيق شي چې شخص ته درد، کړاو يا اهانت ونه رسېږي. او د امکان په صورت کې کوښښ وشي چې له تأميني تدبيرونو څخه راولاړ شوی درد اقل حد ته کمښت ومومي[1].

په دې تعريف سره کولای شو تأميني تدبيرونه له مجازاتو څخه تفکيک کړو، ځکه ليدل کېږي چې جزايي مسئوليت د تأميني تدبيرونو بنسټ نه تشکيلوي، د دې تدبيرونو مبنا په مجرم شخص کې نغښتي جرمې خطرونه دي، له همدې ځايه دی چې د دې تدبيرونو تر لاس لاندې نيول حتی د هغو په حق کې په کار وړل کېږي چې قانوناً د جزايي تعقيب او څارنې وړ نه دي، لکه صغير، ليونی او په عقلي اختلالاتو او امراضو مبتلا اشخاص.

همدا رنګه ليدل کېږي چې د تأميني تدبيرونو مفهوم د مجازاتو له مفهوم او فلسفې سره توپير کوي، ځکه د دې تدبيرونو تر لاس لاندې نيول د جرمې خطا پر وړاندې د جزا په کار وړل يا کړاو يا آزار رسول نه دي. که کله کړاو هم رسېږي، مقصود يې نه دی.

[1] - نجيب حسني، شرح قانون العقوبات: القسم العام، ص ۱۰۴۲

**دويمه وينا: د تأميني تدبيرونو موارد او شرايط يې:**

د تأميني تدبيرونو له مواردو څخه موخه هغه حالتونه دي چې محکمه کولای شي په تأميني تدبيرونو حکم وکړي.

د جزا کود ۱۸۵ مې مادې د تأميني تدبيرونو موارد داسې بيان کړي دي:

"(۱) محکمه هغه وخت د دې قانون په پېشبيني شوو تأميني تدبيرونو حکم کوي چې ثابته شي محکوم عليه د داسې عمل مرتکب شوی دی چې د قانون په حکم جرم پېژندل شوی او د تورن يا محکوم حالت د ټولنې ګټو او مصالحو ته خطر وګڼل شي.

(۲) د تورن يا محکوم حالت هغه وخت د ټولنې د ګټو او مصالحو پر خلاف ګڼل کېږي چې په حال او تير (ګذشته) کې د هغه له رويې څخه او يا د جرم د ارتکاب له حالاتو او علتونو څخه د جرم د واقع کيدو قوي احتمال متصور وي.

(۳) محکمه مکلفه ده يوازې د دې قانون په پيشبيني شوو حالاتو او شرايطو کې په تأميني تدبيرونو حکم وکړي."

د پورته ذکر شوې مادې لومړۍ فقرې د تأميني تدبيرونو د اجرا لپاره دوه شرطونه پېشبيني کړي دي چې د هغو په يو ځای کېدو سره محکمه کولای شي په تأميني تدبيرونو حکم وکړي.

يو: د جرمي عمل ارتکاب د هغه شخص په واسطه چې د هغه پر ضد تدبيرونه تر لاس لاندې نيول کېږي؛

دوه: د ټولنې د ګټو او مصالحو د ګواښوونکي خطر شتون.

دويمې فقرې د خطر معيار داسې مشخص کړی دی: د بل«جرم د پيښيدو قوي احتمال». د يادونې وړ ده چې د دې عمومي شرايطو تر څنګ د هر ډول تدبيرونو د په کار وړلو لپاره اضافي خاص شرايط شتون لري چې محکمې يې تر پاملرنې لاندې نيسي.

**لومړی شرط: د مخکيني (قبلي) جرمي عمل ارتکاب:**

په دې باب کې له جرمي عمل څخه موخه يوازې د جرم مادي عنصر دی نه دهغه معنوي عنصر. په دې معنا چې د هغه عمل ارتکاب چې په قانون کې د جرم په توګه پيشبيني شوی دی، د احتياطي تدبيرونو د تر لاس لاندې نيولو لپاره شرط دی، که څه هم دا عمل د هغه اشخاصو په واسطه سرته رسيدلی وي چې په حق کې يې د مسئوليت موانع صدق کوي لکه ليونی، طفل او داسې نور.

د دې شرط اهميت په دې کې دی چې تأميني تدبيرونه د افرادو آزادۍ محدود او کله کله يې سلبوي، نو بايد يوازې د هغه اشخاصو پر ضد بايد تر لاس لاندې ونيول شي چې د جرم د مادي عمل مرتکب شوي دي. خو که چيرې د هغه اشخاصو پر ضد چې د جرم د مادي عمل مرتکب شوي نه دي او يوازې د جرم د پيښيدو ډار ترې متصور دی، تر لاس لاندې ونيول شي، دا کار ددې لامل کيږي تر څو په ټولنه کې د خلکو عمومي آزادۍ په خطرناکه بڼه تر تيرې او تعدی لاندې راشي.

له بلې خوا به «د قبلي جرمي عمل ارتکاب» تأميني تدبيرونه د «جرم او جزا قانونيت» د اصل تابع کوي، او همدارنګه په ټولنه کې له جرم څخه د راولاړيدونکو خطرونو د کمښت او د جرم د کمښت لامل ګرځي، ځکه مجرمين پوهيږي چې د جرم د ارتکاب په پايله کې شونې ده پر مجازاتو سربېره تر تأميني تدبيرونو لاندې هم قرار ونيسي.

ځيني حقوقپوهان « د قبلي جرمي عمل ارتکاب» د تأميني تدبيرونو شرط نه بولي. د هغوی له نظره يوازې د جرم د پيښيدو تصور د تأميني تدبيرونو د ترلاس لاندې نيولو لپاره کافي دی. خو د نړۍ د ډيری هېوادونو قوانين دافغانستان په شمول (د جزا کود د ۱۸۵ مې مادې لومړۍ فقره) د جرم پيښيدل د تأميني تدبيرونو له شرطونو څخه يو شرط بولي.[۱]

[۱] - مثلاً د ايتاليا جزا قانون ۲۰۲ يمې مادې او د ۱۹۶۷ کال د مصر د جزا قانون ۱۰۶ - مې مادې ته دې مراجعه وشي. احمد شوقي عمر، شرح الاحکام العامة لقانون العقوبات، ص ۸۴۳.

**دويم شرط: په راتلونکي کې د جرم د ارتکاب خطر:**

د احتياطي تدبيرونو دويم شرط دا دی چې د مرتکب پر وړاندې په راتلونکي کې د بل جرم د ارتکاب احتمال شتون لري( د جزا کود د ۱۸۵ مې مادې دويمه فقره). دا احتمال بايد په اوس او تير وخت کې د شخص له رويې څخه د راولاړ شويو دلايلو او يا د جرم د ارتکاب د حالتونو او علتونو پر بنسټ تائيد شي او يو قوي احتمال وي نه يوازې شک. په دې معنا چې هغه ضعيف او کمزوري احتمالات چې پر دلايلو بنأ نه وي، د تأميني تدبيرونو د نيولو مجوز کيدای نه شي.[1]

## دريمه وينا: د تأميني تدبيرونو له احکامو څخه د سرغړونې جزا:

هغه شخص چې د جزا کود کې له درج شويو تأميني تدبيرونو له احکامو څخه سرغړونه کوي - د ولايت، وصايت او قيموميت د سقوط تدبيرونو، مصادرې، حجز او اجباري طبي تدبيرونو په استثناء - د جرم مرتکب شوی او د جزا کود د ۱۹۲ - يمې مادې پر بنسټ د شپږ مياشتو په قصير حبس يا له پنځو زرو افغانيو څخه تر شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزاء محکومېږي.

## دويم مبحث: د تأميني تدبيرونو ډولونه:

د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه، د آزادۍ تحديدوونکي تدبيرونه، د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه او مالي او اقتصادي تدبيرونه په دې مبحث کې د بحث وړ موضوعاتو څخه دي.

تأميني تدبيرونه له څو حيثه د تقسيم وړ دي:

- د موضوع له حيثه په شخصي او عيني تدبيرونو؛
- د قضايي مسووليت له حيثه په وجوبي او اختياري تدبيرونو؛ او
- د موخې له حيثه په احترازي، تهذيبي او حمايوي تدبيرونو وېشل کېږي.

[1] - نجيب حسنی، شرح قانون العقوبات: القسم العام، ص ۱۰۴۷

د افغانستان د جزا کود ۱۸٦مې مادې تأميني تدبيرونه په لاندې څلورو ډولونو وېشلي دي:

۱. د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه؛
۲. د آزادۍ تحديدونکي تدبيرونه؛
۳. د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه؛ او
٤. مالي او اقتصادي تدبيرونه.

د زيات وضاحت لپاره به په لاندې کرښو کې هر يو ياد شوي تدبيرونه تشريح کړو:

## لومړي وينا : د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه:

د جزا کود ۱۸۷مه ماده د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه داسې تعريفوي: «د آزادۍ سلبوونکي تدبيرونه د رواني صحت په مرکزونو کې په رواني مرضونو د مصاب شخص په حجز محکوميت دی.»
په جزا کود کې د آزادۍ سلبوونکي دوه ډوله تدبيرونه پېشبيني شويدي: الف) په رواني مرضونو د مصاب محکوم عليه حجز د رواني صحت په مؤسسه کې. ب) په الکولو يا مخدرو موادو (نشه يي توکيو) د معتاد محکوم عليه اجباريي درملنه.

**لومړۍ فرعه: په جنون (ليونتوب) او رواني مرضونو د مصاب محکوم عليه حجز:**

په جنون يا رواني مرضو مصاب اشخاص هغه مهال چې د جرمي عمل مرتکب کېږي، په هغه صورت کې چې د شعور او ادراک فاقد وي(شعور او ادراک ونه لري) نه مجازات کېږي. خو که چيرې ادراک او شعور يې ناقص (نيمګړی) وي، د جنايت او جنحی په جرمونو کې د مجازات وړ دي. خو د هغوی په برخه کې مخففه احوال رعايت کېږي ( دجزا کود ۸۹مه او ۹۰مه مادې). که چيرې له دې اشخاصو څخه د جرم د پيښېدو د تکرار ويره متصوره وي، محکمه د رواني صحت په مرکزونو کې د هغوی پر حجز حکم صادروي. دا حجز له يوې خوا د محکوم عليه په ګټه دی تر څو تر درملنې لاندې ونيول شي، او له بلې خوا د ټولنې په ګټه دی تر څو د دې اشخاصو دجرم د تکرار خنډ وګرځي.

د جزا کود د ۱۸۸ مې مادې پر بنسټ «محکمه کولای شي د څارنوال يا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماينده د وړانديز پر بنسټ د اهل خبره له تصديق وروسته د رواني صحت په موسسو کې چې په دې منظور يې تخصيص موندلی په رواني مرضونو د مصاب محکوم عليه په حجز حکم وکړي».

په دې معنا چې لومړی د څارنوال يا د شخص د قانوني نماينده له خوا وړانديز صورت مومي، او محکمه په رواني مرضو د شخص له مصاب والي څخه د متيقن کيدو په موخه د اهل خبره نظر اخلي. په هغه صورت کې چې د اهل خبره رپوټ د شخص جنون يا رواني موضوع تائيد کړي، محکمه يې په حجز حکم کوي.

**د حجز موده او اجراآت يې:**

د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د حجز لږ تر لږه موده شپږ مياشتې اټکل کړی وه. خو د جزا کود په ۱۸۸مه ماده کې دا موده حذف شوې ده او په عوض کې يې دا صلاحيت محکمې ته ورکړل شوی دی تر څو د څارنوال يا د مصاب شخص د قانوني نماينده د وړانديز پر بنسټ او د اهل خبره له تصديق وروسته هره موده چې لازمه وبولي، حکم پرې وکړي.

د حجز د مودې د نه ټاکنې دليل «د تأميني تدبيرونو د مودې د نه ټاکل کيدو اصل» دی. د ځينو حقوقپوهانو له نظره څرنگه چې تأميني تدبيرونه د خطر د محدودولو په خاطر وضعه کېږي او په راتلونکې کې د خطر ادامه او اندازه معلومه نه ده، له دې امله قانون د محکمې لاس پرانيستی پرې ايښی دی تر څو حجز ته د جرم د بيائلي ارتکاب د خطر د دفع کېدو تر مهاله ادامه ورکړي. خو د خلکو آزاديو ته د درناوي کولو په موخه او له ناوړه گټه اخيستلو څخه د مخنيوي لپاره لازمه ده د حجز موده د اهل خبره د نظر پر بنسټ د محکمې په حکم کې وټاکل شي. اصل پر دې دی چې اهل خبره د شخص د ښه کيدو لپاره لږ تر لږه موده وړانديز کړي. د خطر د دوام په صورت کې د حجز موده د تمديد وړ ده. د تمديد اجراآت د جزا کود ۱۸۹ مې مادې داسې تشريح کړي دي:

لومړی تمدید: د لومړي ځل لپاره د څارنوال او یا د مصاب شخص د قانوني نماینده په وړاندیز او د رواني صحت مؤسسې په تصدیق.

دویم تمدید: د دویم ځل لپاره د خپلواک طبي متخصص هیئت په واسطه چې له دریو تنو څخه لږ نه وي. قانون د دریم یا څلورم تمدید په بنسټ هیڅ محدودیت نه دی وضعه کړی. له دې کبله د خطرد ادامې په صورت کې د حجز د مودې د تمدید احتمال هم میسر دی.

د جزا کود د ۱۹۰مې مادې له مخې د حجز په دوران کې د رواني صحت اړونده مؤسسه مکلفه ده په حجز د محکوم د صحي وضع رپوټ په هرو دریو میاشتو کې واکمنې محکمې ته وړاندې او محکمه د هماغه رپوټ پر اساس د حجز په لغو حکم وکړي. د ۱۳۵۵ کال په جزا قانون کې دا رپوټ هر شپږ میاشتې یو ځل طرحه کېده. لیدل کېږي چې د جزا کود په دې ځای کې غوره عمل کړی دی، ځکه شوني ده شخص د دوه میاشتو په جریان کې روغتیا ومومي. نو لازمه نه ده د شپږ میاشتو تر پای ته رسیدو پورې انتظار وکړو تر څو محکمه دده د حجز د لغو کولو په برخه کې تصمیم ونیسي.

**دویمه فرعه: په الکولو یا مخدره موادو (نشه یې توکیو) د معتاد د محکوم علیه اجباري درملنه:**

دا تدبیر د دوه ډله اشخاصو په برخه کې ترسره کېږي:

لومړی: د جزا کود د ۱۹۱مې مادې پر بنسټ که چیرې په الکولو یا مخدرو موادو معتاد اشخاص د جنایت یا جنحې د جرم د ارتکاب په تور په حبس محکوم شي، محکمه کولی شي په د هغوی په برخه کې اجباري درملنه تجویز کړي.

د یادونې وړ ده چې لومړی: دا تدبیر د عامې روغتیا د مؤظفې ادارې، پولیسو، څارنوال او یا معتاد شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ صورت مومي. دویم : په اجباري معالجې حکم د محکمې له اختیاري صلاحیتونو څخه دی. په دې دلیل چې د قانون په متن کې د «محکمه کولای شي» له عبارت څخه استفاده شویده د «کولای شي» کلمه اختیار افاده کوي نه الزام.

په هغه صورت کې چې نوموړي محکومین تر اجباري درملنې لاندې ونیول شي، د هغوی د درملنې موده د دوی د حبس له مودې څخه کمېږي.

دويم: د جزا کود د ۹۱مې مادې پر بنسټ هغه اشخاص چې د جرم له ارتکاب وروسته او د حکم له صادريدو د مخه بې شعوره او بې ادراکه کېږي، محاکمه يې د روغتيا تر بېرته راګرځيدلو پورې متوقف کېږي. او د محکمې د حکم پر بنسټ تر اجباري طبي درملنې لاندې نيول کېږي. په دې حالت کې په اجباري معالجې حکم د محکمې له اختياري صلاحيتونو څخه نه دی، بلکې الزامي دی. د دې درملنې موده «د جزا کود د ۹۱مې مادې په لومړۍ فقرې له مخې «د روغتيا تر بيرته راګرځيدو» پورې ادامه مومي. خو د هغوی د روغتيايې وضعيت څخه د څارنې ميتود د جزا کود په ۱۹۰مه ماده کې د پېشبيني شويو اجراآتو سره سم صورت مومي. په دې معنا چې د هرو دريو مياشتو په بهير کې د رواني صحت مؤسسه د هغوی د روغتيايي وضعې رپوټ اړوندې محکمې ته استوي.

د يادونې وړ ده چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون سره په پرتله ليدل کېږي چې د محجوزيت لږ تر لږه زماني معياد چې په نومورې قانون کې شپږو مياشتو ته محدود شوی ؤ، د جزا کود کې يې تغيير موندلی او محجوزيت د دورې لپاره د اقل حد او يا اکثر لپاره هيڅ موده په پام کې نه ده نيول شوې، همدا رنګه د مصاب شخص له روغتيايې او رواني حالت څخه د رپوټ ورکولو موده له شپږو مياشتو څخه دريو مياشتو ته راکمه شوې ده.

يو بل توپير چې دلته ليدل کېږي، دا دی چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون کې د آزادۍ د سلبوونکو تدبيرونو نيول د محکمې له ذاتي صلاحيت څخه ؤ او د ياد قانون د ۱۲۳ - مې مادې د څلورمې فقرې مطابق د څارنوال يا د مصاب شخص د قانوني ممثل غوښتنه يوازې د حجز د مودې د تمديد او بياځلي حجز په حالت کې شرط بلل شوی ؤ، خو په نوي جزا کود کې ليدل کېږي چې دا صلاحيت يو اعطايي صلاحيت دی او هغه مهال په کار وړل کېږي چې وړانديز د څارنوال يا د مصاب شخص د قانوني ممثل له خوا صورت موندلی وي.

## دویمه وینا: د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه:

د ازادۍ د سلبوونکو تدبیرونو پر خلاف چې د جزا کود کې تعریف شوي دي، د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه، نه د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون او نه د جزا کود کې تعریف شویدي، خو د جزا کود د مرتبطو مادو څخه دا استنباطېږي چې د آزادۍ له تحدیدوونکو تدبیرونو څخه موخه هغه تدبیرونه دي چې د شخص آزادي په بشپړه توګه نه سلبوي، بلکې یو ډول محدودیت پرې واردوي. دا تدبیرونه : په ټاکلي ځای کې له ګرځېدو راګرځېدو څخه منع (۱۹۳مه ماده) او په ټاکلو ځایونو کې له اوسېدو څخه منع (۱۹۴مه ماده) باندې شامل دي. د دې تدبیرونو له تطبیق څخه موخه د جرم کمښت یا د جرم له تکرار څخه مخنیوی دی.

**لومړی فرعه: د ګرځېدو را ګرځېدو منع:**

که چیرې قوي احتمال شتون ولري چې په ټاکلي ځای کې د محکوم علیه ګرځېدل راګرځېدل، دده په واسطه د جرم په تکرار پای مومي، محکمه کولای شي پر اصلي جزا سربېره - له خپلې خوا او د څارنوالۍ د غوښتنې له په پام کې نیولو پرته - په ټاکلي ځای یا ځایونو کې دده د ګرځېدو او را ګرځېدو په منعې او یا په ټاکلي ځای یا ځایونو کې دده په اوسېدو حکم وکړي.

د جزا کود ۱۹۳مه ماده په دې هکله داسې صراحت لري: «محکمه هغه وخت په ټاکلي ځای کې د محکوم علیه په ګرځېدو راګرځېدو د منع حکم کوي چې په هغه ځای کې د هغه شتون په قوي احتمال د جرم د ارتکاب د تکرار سبب کېږي».

**(۲۷) اووه ويشتم فعاليت**

**گروپي کار:**

ولې د جزا کود په ۱۹۳ - يمه ماده کې د «په قوي احتمال» عبارت په کار وړل شوی دی؟ حکمت او منطق يې څه شی دی؟ که چیرې د شخص له خوا د جرم د تکرار احتمال ضعيف وي، ايا محکمه کولای شي په دې تدبيرونو حکم وکړي؟ گډونوال دې په څو گروپو تقسيم شي او هر گروپ دې د قوي احتمالاتو او ضعيفو احتمالاتو بيلگې او نمونې ليست کړي او په پای کې دې يو له بله پرې بحث وکړي.

**دويمه فرعه: په ټاکلو ځايونو کې له اوسېدو څخه منع:**

د اوسېدو منع چې په ټاکلي ځای کې له اوسېدو څخه د منع معنا ورکوي، د مخکيني حالت (گرځيدو را گرځيدو د منعې) په نسبت د محکوم عليه لپاره خورا دروند دی. له همدې کبله قانون دا تدبير د جنايت او جنحي جرمونو ته چې درانده دي، تخصيص کړی دی. په دې معنا چې دا تدبير د هغه اشخاصو پر ضد چې د قباحت مرتکب شوي دي، تر لاس لاندې نه نيول کېږي. د جزا کود ۱۹۴مه ماده په دې هکله داسې تصريح کوي: «محکمه کولی شي د جنحي يا جنايت په جزا محکوم عليه پر اصلي جزا برسېره په ټاکلو ځايونو کې له اوسېدو څخه منع کړي. په دې حالت کې محکمه د محکوم عليه شخصي يا ټولنيزه وضع په پام کې نيسي.»

**(۲۸) اته ويشتم فعاليت**

**د جنډر مسايل:**

يو له هغه چارو چې محکمه په دې دوه ډوله تدبيرونو (گرځيدو راگرځيدو منع او اوسيدو منع) کې د حکم پر مهال بايد ورته پاملرنه وکړي جنسيتي مسايل دي. ځکه د ښځو منع کول په هغه ځای کې له اوسېدو څخه چې فاميلونه يې هلته استوگنه لري د افغانستان په ټولنه کې به د ښځو لپاره ډېره سخته تمامه شي يا به ناشونې وي او ډيری سبب کېږي چې هغوی به د نورو جرمونو قرباني شي. نو محکمه بايد په دې برخه کې محتاطانه عمل وکړي.

د آزادۍ د تحديدوونکو تدبيرونو د تطبيق مهال د جزا کود د ۱۹۵مې مادې په لومړۍ فقره او ميعاد يې د نوموړې مادې په دويمه فقره کې داسې تصريح شوي دي:

«(۱) د دې قانون په ۱۹۳ او ۱۹۴ مادو کې درج د آزادۍ تحديدوونکي تدبيرونه په لاندې توګه تطبيقېږي:

۱. په تنفيذي حبس د محکوميت په صورت کې د محکوم بها د حبس له تيريدو يا د مجازاتو له عفو يا مشروطې خوشې کيدنې وروسته.
۲. په تعليقي حبس د محکوميت په صورت کې د حکم د تنفيذ د تعليق په اړه د محکمې د حکم له صادريدو وروسته.
۳. د حبس په بديل د محکوميت په صورت کې د حبس د بديل په اړه د محکمې د حکم له قطعيت وروسته.
٤. په نغدي جزا د محکوميت په صورت کې د حکم له قطعيت وروسته.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو تدبيرونو ميعاد له شپږو مياشتو څخه لږ او د دريو کلونو څخه زياتيدی نه شي».

کله کله د دې مودې په ترڅ کې د محکوم عليه په شخصيت کې د تغيير په سبب د ده لخوا د بيائلي جرم د ارتکاب د خطر احتمالات له مينځه ځي او يا ضعيف کېږي. په دې ځای کې محکمه کولای شي، د مودې له بشپړيدو وړاندې هم د ګرځيدو راګرځېدو په محدوديت او هم د اوسېدو په محدوديت نوې کتنه وکړي او هغه راکمه کړي او يا يې په بشپړه توګه لغوه کړي. خو محکمه له خپلې خوا حکم نه کوي، بلکې دا حکم پخپله د محکوم عليه، څارنوال، د محکوم عليه د مدافع وکيل يا د اوسېدو د ځای د مسؤول په وړانديز صورت مومي.

د جزا کود ۱۹٦مه ماده په دې هکله داسې صراحت لري: «محکمه کولی شي د دې قانون په ۱۹۴ او ۱۹۵ مادو کې درج د محکوم عليه د ګرځېدو راګرځېدو يا اوسيدو د منع موده د محکوم عليه په وړانديز

يا د څارنوال يا دده (شخص) د مدافع وكيل يا د محل زيست (د اوسېدو ځای) د مسؤول په غوښتنه لغو يا كم كړي».

**(۲۹) نهه ويشتم فعاليت**

**انتقادي تفكر:**

د جزا كود ۱۹٦مې مادې د گرځېدو راگرځېدو د منع او اوسېدو د منع موده د بياكتنې وړ گڼلې ده، خو د دې په عوض چې ۱۹۳مې او ۱۹۴مې مادې ته احاله كړې، ۱۹۴مې او ۱۹۵مې مادې ته يې احاله كړې ده، ستاسې له نظره دا احاله صحيح ده يا يوه ټايپي (ليكلو) تيروتنه ده؟

د يادونې وړ ده چې محكمه كولای شي د آزادۍ تحديدوونكي تدبيرونه له خپلې خوا تر لاس لاندې ونيسي، خو د ټاكل شوې مودې د كمښت يا لغوې پر مهال قانون لازمه گڼلې ده چې دا بيا كتنه د څارنوال،مدافع وكيل يا د اوسېدو ځای د مسئول په غوښتنه تر سره شي، نه پخپله د محكمې لخوا.
همدا رنگه د ۱۳۵۵ كال د جزا قانون په مقايسه ليدل كېږي چې د جزا په كود كې د گرځيدو راگرځيدو او اوسيدو د منع موده د شپږو مياشتو څخه تر درې كلونو پورې ټاكل شوې ده، په داسې حال كې چې د ۱۳۵۵ كال په جزا قانون كې د گرځېدو راگرځېدو منع تر درې كلونو او د اوسېدو منع له يو څخه تر پنځو كلونو تر منځه ټاكل شوې وه. په جزا كو دكې وارد شوې، دا توپير كولای شو د هېواد په جزايي سياست كې د تغيير د شواهدو او مجازاتو تخفيف ته د كتنې په حيث وبولو.

## دريمه وينا: د حقوقو سلبوونكي تدبيرونه:

د تأميني تدبيرونو له ډولونو څخه يو بل ډول د هغه حقوقو او امتيازاتو څخه محروميت دی چې د مجرم او جرم د اوضاع او حالت په پام كې نيولو سره قانون هغه پيشبيني كړی دی، تر څو د مجرم او يا جرم له خطر څخه كمښت مينځ ته راشي. دا حقوق د جزا كود په ۱۹۷مه ماده كې داسې ذكر شوي دي:
«د حقوقو سلبوونكي تدبيرونه عبارت دي له:

۱. د ولايت، وصايت او قيموميت سقوط.
۲. په ټاکلي پيشه او حرفه له بوختيدو څخه محروميت.

**لومړی: د ولايت، وصايت او قيموميت ساقطيدل (اسقاط):**

د ولايت ، وصايت او قيموميت ساقطيدل په دې مفهوم دي چې محکوم عليه د نورو اشخاصو پر نفس يا مال د ولايت، وصايت او قيموميت له سلطې له پيدا شوو اعمالو څخه محروميږي (د جزا کود ۱۹۸مه ماده).

له ولايت، وصايت او قيموميت څخه د محروميت شرط د جزا کود ۱۹۹مې مادې په رڼا کې عبارت دی له:

يو : شخص پخوا يو له دې حقوقو څخه برخمن شوی وي.

دوه : د داسې يو جرم مرتکب شي چې:

- د هغه په سبب ونه شي کولای د ولايت، وصايت يا قيموميت پورې اړوند مکلفيتونه په صحيح ډول سر ته ورسوي( البته د دې چارې تشخيص محکمې ته پريښودل شوی دی).
- يا د دا رنگه يو جرم مرتکب شي چې د پورته ذکر شويو دندو په اجرأ کې دده بې کفايتي ثابته کړي.

د جزا کود ۱۹۹مه ماده په دې اړوند داسې حکم کوي: «محکمه په هغو حالاتو کې چې ولي، وصي، يا قيم د داسې جرم مرتکب شي چې د هغو په نومړو دندو پورې د اړوند قانوني مکلفيتونه اجرأ اخلال کړي يا د ولايت، وصايت يا قيموميت د دندې په اجرأ کې د هغوی نه کفايت او توانايي ثابت کړي، د ولايت، وصايت يا قيموميت په اسقاط حکم کوي.»

د پورته ياد شوي جرم په هکله دوه ټکي د تأمل وړ دي:

لومړی: جرم په عام شکل ذکر شوی دی چې د قباحت، جنحي او جنايت جرمونه رانغاړي.

دوه: تصريح شوې نه ده چې نومړی جرم د ولايت، وصايت او يا قيموميت په مکلفيتونو کې له اخلال څخه راولاړ شوی وي.

**(۳۰) دېرشم فعاليت**

**د قانون تحليل:**

د هغه جرم په هکله چې د ولايت، وصايت يا قيموميت د حق د په کار وړلو څخه د محروميت سبب کېږي د جزا کود ۱۹۹مه ماده د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون له ۱۲۷ مې مادې سره پرتله کړئ.

**دويمه فرعه: په ټاکلې پيشه او حرفه کې له بوختيدو څخه محروميت:**

په ټاکلې پيشه او حرفه له بوختيدو څخه محروميت په دې مفهوم دی چې «شخص د صنعتي، تجارتي يا فني فعاليتونو له تر سره کولو» څخه محرومېږي. «په دې شرط چې په هغو بوختيدل قانوناً د يوې رسمي واکمنې مرجع په اجازې پورې تړلی (متعلق) وي » ( دجزا کود ۲۰۰ مه ماده).

د اشتغال (بوختيدو) او کار حق د هېواد د اتباعو له اساسي حقوقو څخه دی. خو که چیرې په يوې ټاکلې پيشې او يا حرفې بوختيدل، د ځينو جرمونو د ارتکاب زمينه مساعده کړي، په دې صورت کې د شرعي مشهورې قاعدې پر بنسټ دفع المفسدة أولى من جلب المصلحة، محکمه صلاحت لري تر څو د جرمونو د مخنيوې او د هغو د زيانونو او خطرونو څخه د ټولنې دوقايې په موخه محکوم عليه په هماغه پيشه يا حرفه له بوختيدو څخه منع کړي. دا موضوع د جزا کود په ۲۰۱ – مه او ۲۰۲مه مادو کې داسې تصريح شوې ده:

د جزا کود ۲۰۱مه ماده: (۱) که چيرې شخص په پيشه يا حرفه پورې اړوندو مکلفيتونو له اخلال څخه د راپيدا شوو جرمونو د ارتکاب په سبب د حبس په جزا محکوم شي، محکمه کولی شي هغه پر اصلي جزا برسېره له اړوندې پيشې يا حرفې څخه محروم کړي. د دې محروميت موده له يوې مياشتې څخه لږ او يا له يوه کاله څخه زياتيدای نه شي.

(۲) که چیرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم علیه په اړونده پیشه یا حرفه کې له بوختیدو څخه د **محرومیت**[۱] د مودې له ختمېدو وروسته د قطعي حکم د صدور له نیټې څخه د پنځو کلونو په ترځ کې په ورته یا د لومړني جرم مماثل د دویم ځل لپاره مرتکب شي، محکمه کولای شي چې د اصلي جزا سربېره په اړونده پیشه یا حرفه له بوختیدو څخه د هغه په محرومیت حکم وکړي. د دې محرومیت موده له یوه کاله څخه لږ او له دریو کلونو څخه زیاتیدی نه شي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج محرومیت د اصلي مجازاتو له تطبیق وروسته عملي کېږي.

د جزا کود ۲۰۲مه ماده: "که چیرې یو شخص د ترافیکي جرم د ارتکاب په سبب په جزا محکوم شي، محکمه کولای شي د ترافیکي جرم د تکرار په صورت کې هغه پر اصلي جزا برسېره د چلونې له حق او د چلونې د جواز له نوي کولو څخه له دریو میاشتو څخه تر دریو کلونو پورې محروم کړي".

د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون او جزا کود مقایسې له مخې لاندې ټکي د یادونې وړ ګڼل کېږي:

- د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون په ۱۳۰مه ماده کې هغه جرایم چې ارتکاب یې په کسب (پیشه) له بوختیدو څخه د محرومیت موجب ګرځیده له شپږو میاشتو څخه په پورته حبس پورې مقید ؤ. په داسې حال کې چې د جزاء کود کې (حبس) په مطلقه بڼه ذکر شویدی. په داسې حال کې چې د جزاء کود پر بنسټ محکوم علیه په درې میاشتو حبس هم محکومیدلای شي.
- د جزاء قانون کې د محرومیت د مودې اقل حد مشخص نه ؤ، په داسې حال کې چې په جزاء کود کې د هغه اقل حد یوه میاشت ټاکل شوی دی.
- د محرومیت له پای ته رسېدو وروسته د پنځو کلونو په ترځ کې د عین جرم یا مماثل جرم د دوباره مرتکب کېدو په صورت کې محکوم علیه د دویم ځل لپاره په پیشه له بوختیدو منع کېږي. د جزا

[۱] د جزا کود په متن کې دا کلمه په دري او پښتو دواړو متنونو کې په اشتباه سره «محکومیت» لیکل شوی دی، په داسې حال کې چې صحیح کلمه «محرومیت» دی، لکه هماغسې چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د ۱۳۰ - مې مادې په دوهمه فقره کې هم د «محرومیت» کلمه ذکر شوې ده. او دا هغه اشتباه ده چې د جزأ کود په متن کې لېدل کیږي او له دې تیروتنې څخه باید سترګې پټې نه شي.

قانون کې يوازې د دې محروميت اکثر حد درې کاله مشخص شوی ؤ. د جزا کود د يادې شوې مودې اقل حد يو کال او اکثر حد يې د ۱۳۵۵ کال د جزاء قانون سره سم درې کلونه ټاکلی دی. نومړو دوو مواردو ته په پام سره کولای شو ووايو چې که هر څومره د جزا کود په ډېرو مواردو کې او د ۱۳۵۵ کال جزا قانون په پرتله د مجازاتو په تخفيف حکم کړی دی، خو په دې ځای کې د مجازاتو د اقل حد په ټاکلو سره کولای شو ووايو چې د قانون جوړوونکي پام د مجازاتو تشديد ته وه نه هغو تخفيف ته.

**(۳۱) يو دېرشم فعاليت**

**د قانون تحليل:**

ګډون کوونکي دې د جزاء کود ۲۰۲مه ماده د ۱۳٦۰ کال په ۴۸۴مه ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د واټ ترافيک قانون ۷۹مې مادې سره پرتله او تحليل کړي.

د جزا کود ۲۰۲مه ماده: «که چيرې يو شخص د ترافيکي جرم د ارتکاب په سبب په جزا محکوم شي، محکمه کولای شي د ترافيکي جرم د تکرار په صورت کې هغه پر اصلي جزا برسېره د چلونې له حق او د چلونې د جواز له نوي کولو څخه تر دريو کلونو پورې محروم کړي».

د واټ ترافيک قانون ۷۹ مه ماده: « (۱) محکمه صلاحيت لري مرتکب چلوونکی (ډريور) د نقليه وسايطو د ټولو يا ځينو ډولونو د چلونې له حق څخه په دايمې يا مؤقته توګه محروم کړي. (۲) د ترافيکي مقرراتو له احکامو څخه د تخلف (سرغړونې) په صورت کې تر دريو مياشتو پورې د چلونې له حق څخه محروميت د ترافيکي دايرې له صلاحيت څخه دی...».

## څلورمه وينا: مالي او اقتصادي تدبيرونه:

که چيرې جرمونه له سوداګريزو او مالي فعاليتونو څخه راولاړ شوي وي يا په يو ډول له مالي او اقتصادي مسايلو سره اړيکه ولري، او د دې احتمال شتون ولري چې مجرم يو ځل بيا له خپلې حرفې، سوداګريز فعاليت، جواز، سوداګريز ځای او يا د فتر څخه ناوړه ګټه واخلي يا دا چې ياد شوي موارد، احتمالاً د جرم

د بياځلي ارتکاب زمينه برابره کړي يا ټولنې ته جرمي خطر متوجه کړي، په هغه صورت کې ايجاب کوي تر څو د ټولنې د ملاتړ او له جرمي خطر سره د مبارزې په موخه مالي او اقتصادي تدبيرونه تر لاس لاندې ونيول شي. نو له دې امله د افغانستان قانون جوړوونکي هم د مالي او اقتصادي تدبيرونو په اړوند لازم اقدامات پېشبيني کړي دي. د جزا کود ۲۰۳مه ماده په دې هکله داسې صراحت لري: "د مالي او اقتصادي تدبيرونو ډولونه عبارت دي له:

۱. د شيانو مصادره
۲. د ځای ( محل بندول).
۳. د حقيقي شخص د فعاليت درول.
٤. د حکمي شخص د فعاليت درول."

دا دی اوس به د لا زيات وضاحت په موخه د هر يو ياد شوي مورد په هکله يو مختصر بحث ولرو:
د جزا کود په ۲۰۳مه ماده کې درج شوي مالي او اقتصادي تدبيرونو څخه هر يو په لاندې توګه توضيح کوو:

**لومړی فرعه: د شيانو مصادره:**

د دې رسالې د لومړي څپرکي په دريم مبحث کې د مصادرې په اړوند مفصل بحث صورت وموند او د مصادرې ډولونه ( د تکميلي جزا په توګه او تأميني تدبير په توګه) هم بيان شول.
په دې ځای کې له مصادرې څخه موخه د تأميني تدبير په توګه مصادره ده او منظور ترې د هغه شيانو مصادره ده چې دهغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، صادرول، وړاندې کول، پير يا پلور په خپل ذات کې جرم وي. د دا رنګه شيانو په مصادره حکم صورت مومي که څه هم تورن برائت حاصل کړی وي؛ په دې معنا چې مصادره د تأميني تدبير په توګه په مطلق ډول سره د شخص له مجرم کېدو سره اړيکه نه لري.
د جزا کود ۲۰۴مه ماده په دې هکله داسې حکم کوي: « که چيرې ضبط شوي شيان د هغو شيانو له جملې څخه وي چې د هغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، صادرول، وړاندې کول، پير يا پلور په

خپل ذات کې جرم وي، محکمه د هغو په مصادرې حکم کوي، که څه هم چې نوموړي شيان د محکوم عليه ملکيت نه وي يا تورن له محکمې څخه برائت واخلي.»

**دويمه فرعه: د ځای (محل) بندول:**

د ځای (محل) بندول د مالي او اقتصادي تدبيرونو يو بل ډول دی چې د مجرم شخص د فعاليت د ساحې د محدودولو او د هغه د مقيد کولو په موخه صورت مومي. او د جرم د بيا ځلي ارتکاب څخه د مخنيوي لپاره که نوموړی ځای (محل) په اصل کې د جرم د ارتکاب لپاره اختصاص موندلې وي، يا دا چې په اصل کې د جرم د ارتکاب لپاره تيار شوی نه دی خو وروسته په دې موخه تر استفادې لاندې نيول شوی وي.

دجزا کود ۲۰۵مه ماده په دې هکله داسې حکم کوي:

"(۱) که چيرې کوم ځای د جرم د ارتکاب په خاطر اختصاص موندلی وي، محکمه په دې قانون کې په پيشبيني شوو جزاګانو برسېره له يوې مياشتې څخه تر شپږو مياشتو پورې د هغه د بندولو حکم صادروي.

(۲) که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم عليه د محکوميت د دورې له ختمېدو وروسته د قطعي حکم د صادرېدو له نيټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې لومړنی جرم دوباره مرتکب شي، محکمه کولی شي پر اصلي جزا برسېره له يوه څخه تر پنځو کلونو پورې د اړوند ځای په بندولو حکم وکړي.

(۳) که چيرې ځای د جرم د ارتکاب په خاطر اختصاص شوی نه وي خو له هغه څخه د جرم د ارتکاب په منظور کار اخيستل شوی وي، محکمه په دې قانون کې پر پيشبيني شوو جزاګانو برسېره په مؤقتي توګه د هغه پر بندولو حکم کوي. دغه موده له يوې مياشتې لږ او له يوه کاله څخه زياتيدی نه شي.

(۴) د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوي حکمونه د نورو اشخاصو حقوق چې د حسن نيت لرونکي وي، نه اخلالوي.»

**(۳۲) دوه دېرشم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود د ۲۰۵ مې مادې په (۱) فقره کې د هغه ځای د بندولو موده چې د جرم د ارتکاب لپاره يې اختصاص موندلی دی، له يوې مياشتې تر شپږ مياشتو پورې پېشبيني شويده. او د همدې مودې په (۳) فقره کې د هغه ځای د بندولو موده چې د جرم د ارتکاب لپاره يې اختصاص نه دی موندلی، له يوې مياشتې تر يوه کال پورې پيش بيني شويده. په يادو شويو فقرو کې د جرم او جزا تناسب و ارزوئ؟

**د ځای په بندولو د محکوميت آثار:**

د ځای په بندولو د حکم صادرول ځيني آثار او پايلې لري چې د حکم د صادرولو په تعقيب عملي کېږي؛ لکه:

۱. په هماغه پيشه يا حرفه له بوختيدو څخه د مرتکب محروميت.
۲. د مرتکب محروميت د جرم د ارتکاب د ځای له پرېښودلو يا اجاره ورکولو څخه اقاربو يا نورو اشخاصو ته د عين کسب او حرفې د بوختيدا په موخه.

دا محروميت د ثالثو (دريمګړو) اشخاصو پر حقوقو لکه د ځای د څښتن او يا نورو کسانو چې له جرمي عمل سره اړيکه نه لري سرايت نه کوي.

د جزا کود ۲۰۶مه ماده په دې هکله داسې حکم کوي: «(۱) په ټاکلي کسب يا حرفه له بوختيدو څخه د شخص محروميت هم د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په حکم کې شامل دی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په صورت کې شخص نه شي کولی د جرم د ارتکاب ځای له جرم له واقع کېدو وروسته د عين کسب او حرفې د پر مخ بيولو په منظور اقاربو يا نورو اشخاصو ته پرېږدي يا يې په اجاره يا کرايه ورکړي.

(۳) د ځای مالک يا بل شخص چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عيني يا انتفاعي حق لرونکي وي، له جرمي عمل سره د نه ارتباط په صورت کې تر محروميت لاندې نه راځي.»

له ټاکلي پېشې يا حرفې څخه موخه - لکه څرنګه چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون کې تصريح شوې وه- په سوداګريزو، صنعتي فعاليتونو بوختيدل او يا د هغه ځای (محل) پيشه يا حرفه ده خو د جزا کود ۲۰۶مې مادې په لومړۍ فقره کې د دې کلمې اطلاق شوني ده چې په ذهن کې دا شبهه رامينځ ته کړي چې موخه ترې له هرې معينې حرفې څخه محروميت دی چې محکمه يې مناسب وبولي، که څه هم په هغه ځای کې له ارتکاب موندلي جرم سره اړيکه ونه لري.

**دريمه فرعه: د حقيقي او حکمي اشخاصو د فعاليت درول:**

لکه څرنګه چې د مخه مو يادونه وکړه چې د جزا کود ۲۰۳مې مادې څلور ډوله مالي او اقتصادي تدبيرونه ذکر کړي دي چې عبارت دي له:

۱. د شيانو مصادره.
۲. د ځای ( محل) بندول.
۳. د حقيقي شخص د فعاليت درول.
٤. د حکمي شخص د فعاليت درول.

**(۳۳) دري دېرشم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

د جزا کود ۲۰۳ مې مادې د څلور ډوله مالي او اقتصادي تدبيرونو له جملې څخه (۱ او ۲) ډول ( د شيانو مصادره او د ځای (محل) بندول) د بېلابېلو مادو په ترڅ کې توضيح کړی او جزايي احکام يې بيان کړي دي. خو د (۳ او ۴) ډول (د حقيقي شخص د فعاليت درول او د حکمې شخص د فعاليت درول) په اړوند يې هيڅ ډول توضيحات ذکر کړي نه دي او د هغو دواړو تفصيلي احکام يې بيان کړي نه دي. اوس تاسې څه فکر کوئ چې دا دوه ډوله تدبيرونه په کومو مواردو او د څومره مودې لپاره او څرنګه د تطبيق وړ دي؟

**احتمالي ځواب:** په دې اړوند چې د جزا کود ولې (د حقيقي او حکمي اشخاصو د فعاليت د درولو) په اړه تفصيلي احکام نه دي ذکر کړي، وکولای شو ووایو چې شونې ده قانون جوړوونکي په دې ځای کې يوازې په هغه څه چې د جزا کود په خاصه برخه کې راغلي بسنه (اکتفأ) کړي وي. ځکه د جزا کود په (۵۰۰، ۵۱۵، ۵۲۵، ۵۴۴ او ۹۰۱) مادو کې خاص احکام شتون لري چې تاسې کولای شئ مراجعه وکړئ.

**(۳۴) څلور دېرشم فعاليت**

**فرضي قضيه :**

عارف د کابل ښار په يوه ناحيه کې يو ځای د سلماني لپاره پرانيزي او عملاً په کار پيل کوي، له يو څه مودې وروسته نوموړي د نشه يي توکيو د ترويج په جرم ګرفتار او تورنېږي چې ده د «سلماني» تر نامه لاندې د نشه يي توکيو په ترويج کې لاس درلود. د تحقيقاتو له پای ته رسېدو وروسته مرتکب د نشه يي توکيو د ترويج په جرم پر محکوميت سربېره د جرم د ارتکاب د ځای په بندولو د اتو مياشتو لپاره هم محکومېږي. اوس دده صميمي دوست جاويد غواړي له زندان څخه د عارف له خوشې کېدو پورې نوموړی ځای پرانيزي او بيا ځلې (د سلماني فعاليت پيل کړي، خو څارنوالي ورته د بيا ځلې) پرانيستلو اجازه نه ورکوي، د عارف له محکوميت څخه څلور مياشتې وروسته د ځای څښتن غواړي خپله هټۍ (دکان) ميرمن لطيفې ته په کرايه ورکړي تر څو هلته سينګارتون (آرايشګاه) پرانيزي، خو بيا هم څارنوالي د مالک لپاره د نوموړي ځای د کرايه ورکولو اجازه نه ورکوي، او دا استدلال کوي چې ياد ځای د محکمې په حکم بند شوی دی او د سينګارتون فعاليت د سلماني فعاليت ته ورته دی.

**پوښتنې:**

۱- آيا د محکمې حکم د جزا کود له احکامو سره په سمون کې صادر شوی دی؟

۲- جاويد او ميرمن لطيفې ته د کرايې نه ورکولو په اړوند څخه نظر لرئ؟

## د دويم څپرکي پايليزه:

په دويم څپرکي کې د داسې موضوعاتو لکه د تأميني تدبيرونو تعريف، موخې او د تطبيق موارد او ډولونو په هکله بحث صورت وموند چې کولای شو لنډيز يې په لاندې کرښو کې دارنګه بيان کړو:

۱. له تأميني تدبيرونو څخه موخه، د ټولنې د ګواښونکو خطرونو له مينځه وړل، عادي او آبرو مندانه(شريفانه) ټولنيز ژوندانه ته مجرم بيرته ستنول دي. نو داسې دې تطبيق شي چې شخص ته درد، کړاو او يا اهانت ونه رسېږي او يا دا درد او کړاو اقل حد ته کمښت ومومي.

۲. د تأميني تدبيرونو د تطبيق شرايط عبارت دي له: د قبلي يا مخکينی جرمي عمل ارتکاب او په راتلونکي کې دهغه د ارتکاب د خطر احتمال.

۳. د آزادۍ سلبوونکي، د آزادۍ تحديدوونکي، د حقوقو او امتيازونو او مالي او اقتصادي سلبوونکي تدبيرونه، د تأميني تدبيرونه مهم ډولونه تشکيلوي.

٤. د آزادۍ تحديدوونکي تدبيرونه عبارت دي له: په جنون (ليونتوب) او رواني ناروغتياوو د مصاب محکوم عليه حجز او په نشه يي توکيو او يا الکولو معتادو مجرمينو حجز، چې د جنايت يا جنجې د جرم مرتکب شوي او په حبس محکوم شوي وي. همدارنګه هغه اشخاص چې د جرم له ارتکاب وروسته او د حکم له صادرېدو د مخه، بې شعوره او بې ادراکه کېږي، د روغتيا تر بېرته راګرځيدو، د هغوی محاکمه درول کېږي او د محکمې د حکم پر بنسټ، تر حجز او اجباري طبي درملنې لاندې نيول کېږي.

٥. د آزادۍ تحديدوونکي تدبيرونه، هغه تدبيرونه چې د شخص آزادۍ په بشپړه توګه نه سلبوي بلکې ځيني محدوديتونه لکه په ټاکلي ځای کې له ګرځيدو راګرځيدو منع او ټاکلو ځايونو کې له اوسېدو څخه منع د جرم د کمښت او ياد هغه د مخنيوې په موخه، رامينځ ته کوي.

٦. د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه هم په دې معنا دي چې:

أ. محکوم عليه د نورو پر نفس يا مال د ولايت، وصايت او د قيموميت له سلطې له پيدا شوو اعمالو څخه محروم شي.

ب. په ټاکلي پيشه او حرفه له بوختيدو يا صنعتي، تجارتي يا فني فعاليتونو له تر سره کولو محروميت چې په هغو بوختيدل قانوناً درسمي واکمني مرجع په اجازې پورې تړلی (متعلق) وي.

۷. مالي او اقتصادي تدبيرونه د شيانو په مصادرې، د ځای (محل) په بندولو او د حقيقي او حکمي اشخاصو د فعاليت په درولو شاملېږي، او سربيره پردې، شخص نه شي کولی د جرم د ارتکاب ځای د جرم له واقع کيدو وروسته د عين کسب او حرفې د پر مخ بيولو په منظور اقاربو يا نورو اشخاصو ته پريږدي يا په اجاره ورکړي. خو د ځای د مالک يا بل شخص حقوق چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عيني يا انتفاعي حق درلودونکي وي، له جرمې عمل سره نه ارتباط په صورت کې، نه اغيزمن کيږي.

## عمومي پايليزه:

دا رساله چې د دوه څپرکو (جزاګانې او تأميني تدبيرونه) درلودونکې ده، په هغو پورې اړيکمن موضوعات تر مباحثې لاندې ونيول شول. ګډون کوونکي په يادو څپرکو کې د درج شويو موضوعاتو په هکله له مباحثو وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې:

۱. د جزا خورا مهمې ځانګړتياوې عبارت دي له: د جزا قانوني والی، د جزا شخصي والی، د جزا عمومي والی او تطبيق کې يې مساوات، دی.
۲. نغدې جزا په افغاني پيسو ټاکل کېږي. د جنايت په جرمونو کې د نغدي جزا ټاکل جواز نه لري. طفل په نغدي جزا نه محکومېږي.
۳. ۱ درجه او ۲ درجه دوام حبس دوه ډوله حبسونه دي چې اوس اوس د افغانستان جزايي نظام ته وارد شوي دي.
٤. تبعي جزاګانې د لاندنيو ځانګړنو درلودونکي دي:
   أ. د محکمې په حکم کې نه تصريح کېږي؛
   ب. د جناياتو په جرمونو کې چې د حبس موده يې له لسو کلونو څخه زياته وي، د تطبيق وړه ده؛
   ج. د جزا کود دويم کتاب لومړي او دويم باب درج شويو جرمونو کې، هم د تطبيق وړ دي، دې ته له پام پرته چې موده يې څومره ده.
٥. له نغدي جزا سره د مصادرې عمده توپيرونه په دې کې دي چې مصادره عيني جزا ده او د شي (څيز) په ذات پورې اړيکه (تعلق) نيسي، خو نغدي جزا د شي له عين پورې تعلق نه لري. له بلې خوا نغدي جزا د قباحت او جنحې له جرمونو پورې مختص ده ( اختصاص لري)، په داسې حال کې چې مصادره په ټولو جرمونو کې د تطبيق وړ ده.
٦. مصادره، د جزا په کود کې، د تکميلي جزا په توګه او د تأميني تدبيرونو په توګه، تنظيم شويده.

۷. د حکم خپرول، د حکم له قطعيت څخه د مخه، جواز نه لري. د جنسي تيري، قذف او توهين او ښکنځلو په جرمونو کې د حکم خپرول، د مجني عليه له اجازې پرته، جواز نه لري.

۸. له تأميني تدبيرونه څخه بنسټيزه موخه، په ټولنه کې د خطرونو له مينځه وړل دي، نو تر خپلې وسې دې په داسې شان سره تطبيق شي چې شخص ته درد، کړاو او يا اهانت ونه رسېږي او يا دا درد او کړاو اقل حد ته کمښت ومومي.

۹. هغه څه چې امنيتي تدبيرونه له مجازاتو څخه تفکيکوي، دا دی چې جزايي مسئوليت ، د تأميني تدبيرونو بنسټ نه تشکيلوي، بلکې د دې تدبيرونو مبنا او مبرر، په مجرم شخص کې پټ او نغښتی خطر دی، نو له دې امله کله هم دا تدبيرونه حتی د هغه کسانو په حق کې په کار وړل کېږي چې قانوناً د جزايي تعقيب وړ نه دي.

۱۰. د آزادۍ سلبوونکي، د آزادې تحديدوونکي، د حقوقو او امتيازونو او مالي او اقتصادي سلبوونکي تدبيرونه، د تأميني تدبيرونه مهم ډولونه تشکيلوي.

۱۱. د آزادۍ تحديدوونکي تدبيرونه په جنون او رواني ناروغتيا د مصاب محکوم عليه او په نشه يې توکيو او يا الکولو معتاد مجرمينو چې د جنايت او يا جنحې د جرم مرتکب شوي او په حبس محکوم شوی وي د حجز په معنا دی.

۱۲. د آزادۍ له تحديدونکو تدبيرونو څخه موخه، هغه تدبيرونه دي چې د شخص آزادي په بشپړه توگه نه محدودوي بلکې ځيني محدوديتونه لکه په ټاکلي ځای کې د گرځيدو راگرځيدو څخه منع او په ټاکلو ځايونو کې د اوسېدو څخه منع د جرم د کمښت او د هغه له تکرار څخه د مخنيوي په موخه رامينځته کوي.

۱۳. د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه په دې معنا دي چې محکوم عليه د نورو اشخاصو پر نفس يا مال د ولايت، وصايت او قيموميت له سلطې له پيدا شوو اعمالو څخه محروم شي. همدا رنگه په ټاکلي پيشه او حرفه له بوختيدو څخه محروميت، يا د صنعتي، تجارتي يا فني فعاليتونو تر سره کول چې په هغه بوختيدل قانوناً د يوې رسمي واکمنې مرجع په اجازې پورې تړلي(متعلق) وي.

مالي او اقتصادي تدبيرونه هم د شيانو په مصادرې، د ځای(محل) په بندولو او د حقيقي او حکمي اشخاصو د فعاليت په درولو شاملېږي، چې د جرم د ځای په بندولو حکم، د ټاکلي پيشې يا حرفې څخه په بوختيدو د شخص محروميت له ځان سره لري او سربيره پردې، شخص نه شي کولی د جرم د ارتکاب ځای د جرم له واقع کيدو وروسته دعين کسب او حرفې د پرمخ بيولو په منظور اقاربو يا نورو اشخاصو ته پريږدي يا په اجاره ورکړي. خو د ځای د مالک يا بل شخص حقوق چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عيني يا انتفاعي حق درلودونکي وي. له جرمي عمل سره د نه ارتباط په صورت کې، نه اغيزمن کېږي.

# آخځليکونه

**الف) قوانين:**

۱. جزا كود، ۱۳۹٦کال؛
۲. د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ کال؛
۳. د دولتي مدالونو او نښانونو قانون؛
٤. مدني قانون؛ او
٥. د مسكراتو او مخدره توكو پر وړاندې د مبارزې او د هغه د کنټرول قانون.

**ب) کتابونه:**


۱. ابن الهمام، عبدالواحد، شرح فتح القدير. دارالفكر، بيروت
۲. ابو خطوة – أحمد شوقى عمر، شرح الاحكام العامه لقانون العقوبات،۲۰۰۷ دارالنهضة العربية.
۳. حسنى، محمود نجيب ، شرح قانون العقوبات، القسم العام، دارلنهضة العربية، ط ٥، ۱۹۸۲، القاهرة.
٤. خلف، على حسين- الشاوى، سلطان عبدالقادر، المبادئ العاملة فى قانون العقوبات، (نسخه اليكترونيكى)
٥. سرور دانش، حقوق اداری افغانستان، چاپ اول، کابل، انتشارات مؤسسه تحصیلات عالی ابن سینا، ۱۳۹۲.
٦. شمس الدين، اشرف توفيق، شرح القانون العقوبات،القسم العام، نسخه PDF
۷. -۱۳ Richard C. Dieter, The Death Penalry and Human Rights: U.S. Death Penalty and International Law, Oxford Round Table U.S. Death Penalty and International Law, P. ۳.

۸. حسين غلامي، مبانی حقوق و عدالت جزایی در افغانستان، سفارت کبرای المان، کابل، ۱۳۸۵.

**ج) انټرنيټي ويب پاڼې:**

https://www.amnesty.org/en/latest/news/۲۰۱۸/۰٤/death-penalty-facts-and-figures-۲۰۱۷